4171

# کندهار




په کندهار کښې د زراعتي تراکتور نو د ورکشاپ یو ه منظره
په دغه ورکشاپ کښې زراعتي تراکتورونه ترمیم او
اصلاح کیږي

## سال ۱۳۵۰

## د ۱ ۲

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
د مسؤل مدیر وکیل: غلام محی الدین [ایوبی]

مهتممه: پیغله قمره (اخکزی)

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹
د دولسم کال لومړی ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۷

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲] د
په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر

د وری میاشت
۱۳۵۰ لمریز کال

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR:

GHULAM MOHYUDDIN

AYUBI

APRIL 1971

GOVERNMENT PRESS

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
15 MAR 2005
6 CONTINUATION 6

عل
۱۳۵۱

د کابل څخه رالیږنه :

د زیری د جریدی مدیر ژواك :

# د کندهار مجله

## ادب یعنی ؟

اقتراح :

په کابل کی د پښتو ضرورت او هغه خواد نظر چی ورته شته ز. د کندهار د محلی اوور ځپانی سره بی علاقی ورته وایاست که غافله کیږی وم. بیاهم د قاقو بی

سره محبت دی چول گناه ته ملتفت غونډی کیږم او دا گناه د یو ه اعتذار به اعتراف دفع کول غواړم په دی شان چی ورو سته تردی به

داصلی قاقو بی د خپلو خپلوانو سره د قلم په ژبه د قاقو بی د ښه دالی ارمان منعکس کوم . داده زما وعده او هغه ژ اعتراف ستاسی ژواك

بوهیږم چی ددی بو ښتنی دپاره زمو ږ د محوان او ژاړه سره محوابو نه سته خوزه ؛ زه هغه دوی ته پریږدم او وایم ادب او هنر یو مجرد شی مه بولی محکه ادیب

قولنه زیږوی او جوړوی یی هم داشخیره اوس علم حل کیږی ده چی ویل کیده به : « نوابغ قولنه

جوړوی » بلکه نن داهنل شوی ده چی قولنه د نوابغو یه جوړولو کی اهم رول لری د دی اصل په

اساس راسی چی داهم ومنو چی د ادیب په جوړولو او روزلو کی محیط لوی رول لری . محنگه ؟

داچول چی که یوه قولنه د ژاړه فکر غوړه والی اهم گڼی ادیب ددی اغبزی څخه نه شی وتلای خو که قولنه دیوه ریفورم غوښتونکی وی ادیب به خاماخا اصلاحی غوښتنه منعکسه کوی په همدی شان که قولنه د بنیادی تحول

سره تلوسه پیدا کیږی په دی وخت کی ادیب دی تلوسی ته رابلل کیږی.

دادی د ادب تعلق د ادیب سره او داده د ادب په برخه کی زما نظریه چی تاسی ته به په ډیرلنډ چول عرض سی د اغلو دی برخی ته چی ادیب ولی کله خپلی خبری په پرده کی نفاذی او ولی خپله مدعا حر گنده محیط ته نه سی عرضه کولای ؟

داسوال هم زموږ دمخه نظریه ثابتوی او داچول چی محیط او قولنه به ده ته دیرده داری امر کوی او محنی غواړی به چی قدم حر نگه کښیږدی .

داخبره به ممکن تاسی راسره منی چی ادیب د دو د او عنعنی - مذهبی تقدس او سیاسی جار او جنجال له هیڅ شان نه شی بی برواکیدلای او ددی د رو شکیلو مخه هر وخت ادیب ته حرمه وی حتی داهم باید ومنل شی چی دغه د دی شکیله ده ته قولنه ورحرمه کوی او دی دی چی په دغه چول محنگیر کی دشرنگی آواز بورته کوی او خلک دی ته رابولی چی دده د محنگیر دشرنگی اژانگه تعبیر کیږی .

دا تعبیر د چا له خوا کیږی ؟ د محیط ، د ماحول او د قولنی له خواشوی دی او کیږی هم په دی اعتبار موږ باید بیاهم دا ومنو چی ادب د ادیب په هنداره کی د محیط امر او د محیط دژوند حر وده .

که دا کلیه ومنل شی نو موږ باید دا پوښتنه ونه کړو چی ادب یعنی ؟

بلکه باید دا ووایو چی محیط یعنی ؟ خیر محنی لا بله هم لری هغه

دا چی ادب پخپله یوه غایه یا د ادب او محیط څخه مجرد بولی او

وایی : هنر د ژوند نقش قا کی او هنر یا ادب چی د هنر یوه برخه ده

د محیط د نقش ښو ونکی خوده مگر دا باید ونه ویل شی چی د ژوند په

اصل کی یو ه غوټه برخه ، داچول نظر سته محکه د دی نظر سره د اقوت

بیا مه غواړی چی دا ثابته کړای شی چی هنر یا ادبی هنر د مریخ یا

زهری یوه غوړه او ښایښته مرغلره ده چی د نیلی آسمان د خوا بر بشر

او قولنه راتوئیږی .

دا یوه ښکاره او لنډه خبره ده

چی د هنر او ادبی هنر قیمت قا کلو ته قولنه ، وانسان معیار قا کی

او دغه انسان او دغه قولنه ده چی موږ ته د « غو رد » او « نتلی »

حیثیت راښئی بیاهم دا وړانگه د همدغه لمر څخه را بیله ده او

باید ووایو چی ادیب د ادب د حر گندوونکی او ادب د قولنی

د امر یوه شمه ده .

دا چی د ادیب رول په دی برخه کی څه دی په دی برخه کی به موږ بله ورځ لږ او ډیر بر وږغیږو

یعنی د ادیب د رول څخه انکار هم د لته ماته بر یوه حقیقت ستر گی

بقول ایسی .

د امنلی برخه ده چی ادب د ادیب یا هنر د هنرمند سره د وا ړه

د وه اړخه لری چی یو خوا یی د ده

ذاتی استعداد او بله بیا هغه عطا

ده چی قولنه یی ورته برخه کوی

یا موږ باید د ادیب د دینا میک

څخه انکار ونه کړو مگر د لته یوه

برخه میکانیکه هم ده او دا بیلتون

به بل وخت وخیږو .

(۱ مخ)

# نوی کال په خوښۍ او هیله مندۍ سره استقبال کړی

دژمی دسړی او عبوسی څهری په تیریدو سره زوړ کال سرته ورسیدی او نوی کال په خوښۍ او خندا سره راغی، دپسرلی خوږ نسیم په خپل راتګ سره دنوی ژوند ویښتیا، نوی حرکت او فعالیت پیغامونه راوړل .

وچ دښتونه او سپیره غرونه بیرته شنه او زرغونه شول، دپسرلی باران مری خواته دفیض نه ډکی او به روانی کړی، شپانه هر سهار خپلی رمی سمسورو دښتونو ته بیائی او دشنو غرو په لمنه کښی ئی بیائی، کروندګر او باغوانان سهار وختی په خپلو پټیو، کروندو او باغونو کی لګیاوی زیار باسی او فعالیت کوی څو چه د خپلو باغونو او مځکو څخه دځان او ټولنی په ګټه کار واخلی او دکرنی دلاری هیواد پرپښوو دروی .

ددولت مامورینو دنوی کال په راتلو سره نویو کتابونو او نویو حسابونو سره پیل وکړ او دکال دسره څخه کوښښ کوی چی خپلی چاری په ښه توګه او دخلکو او هیواد په ګټه پرمخ بوزی او دټولنی او هیواد دپاره د صداقت او لوړو خومتونو مصدر وګرځی .

وطن دوستان او واقعی خیر غوښتونکی کسان نوی کال په خوښۍ، خوش بینی او هیله مندۍ سره استقبالوی دخپلی ټولنی او خلکو سره په زړه کښی هغو مره مینه او خواخوږی لری لکه څرنګه چی ئی دخپل ځان او کورنی سره لری او روادار نه وی چی به هیواد کښی ئی یو څوک پریشانه، بدبخته او دناوړه ژوند خاوندشی او نه یوازی په خپله یو چاته په لاس او خوله زیان نه رسوی بلکه نور کسان هم دټولنی او همنوع دآزار او زورولو څخه راګرزوی او دی ته ئی تشویقوی چی هر څوک دیو او بل سره مینه، ورورولی او مهربانی ولری، دټولنی ترمنځ دیووالی، ګډی مرستی او متقابل اعتماد او احترام مزی ټینګ شی دښمنی، تعصب، تبعیض، بدبینی او نور داډول ناوړه خویونه له هیواد او ټولنی څخه دمنځه ولاړ شی او هر څوک دخوښۍ او هیله مندۍ ژوند سرته ورسوی او یو بل ملاتړ او خواږه ملګری اوسی .

هر څوک دنوی کال دراتګ او پسرلی څخه الهام اخلی خومئورین، پوهان او دردمند کسان پرته دټولنی دخیر او ښیګڼی، هیواد دآبادۍ او لوړتیا او خلکو نیک مرغۍ او خوشحالۍ څخه بل هیڅ آرزو او امید نه لری او دپسرلی دخواږه نسیم څخه هم دخپل هیواد داعتلا او دخپلو خلکو دنیک مرغۍ او دهوساینی دالهام په اخستلو سره خپلی سالمی او مثبتی مبارزی ته دوام ورکوی او په خپل هیواد کی دناپوهی، ناروغی، بیکاری، بی چارګی او داسی نورو اجتماعی آفتونو په له منځه وړلو کی خپل ګټور کوششونه پرمخ بیایی .

هره چاره په ښه شروع او پاخه تدبیر سره سپږی او دفعالیت، پرله پسی کوشش او قوی ارادی دلاری پرمخ درومی او انسانان بری او مقصد ته رسوی، نو راسی چی موږ او تاسو هم دنوی کال په سر کی دخپلو چارو شروع په پاک نیت سره وکړو، پوخ تدبیر او هوښیاری په کار واچوو، فعالیت او صداقت وکړو او په ټینګ عزم ځانونه په خپلو هدفونو کی بریالی وګرزوو .

ورځی چی ځانونه دنوی ژوند او نوی عصر دکاروان سره ملګری کړو، زاړه خویونه او ناوړه دودونه پریږدو په زړو کی دهمنوع او ټولنی دښیګڼی او نیک مرغه کولو احساس وپالو، ژوند ته وخاندو نوی کال ته خوش بین اوسو او دخلکو لوړتیا او دهیواد سمسورتیا ته هیله ولرو او دبری پر لور چټک ګامونه واخلو .

دغه دی زموږ دبری رازاوله همدغی لاری څخه خپلی تر شاپاته چاری سمولای او پرمخ تلای سو او ولای سو چی دخپل انسانی مسئولیت په احساس او وجدانی عاطفی په لرو سره ځان ته دلوړ خدمت مصدر وګرزو او نورو ته دخیر او ښیګڼی رسولو دلاری خپلی انسانی وجیبی په صداقت سرته ورسوو .

(ابو بی)

له انګريزي کتابه څخه

# د ښوونې هدف

ښوونه هدف لري او دا هدف
اصل کښې اجتماعي دي.
چې موږ چاته ښوونه کوو
ظور مواد دي چې له هغو سره
ه وکړو، څو دوی سمدستي

سني مرحله کښې او هم په
ستني زمانه د پوره ژوند لپاره
ه شي او هم د ټولنې د غړو سره
ژوندون مهارتونه او هنرونه
کړي.

حقيقي ژوندون هغه دي چې د
خلکو سره يو ځای په ګډه
رسيږي او څوک چې يکړ
د هغه ژوندن په واقعي مفهوم
ندنه بلل کيږي. په دې اساس

ټوله کارونه چې د ښوونې
سله ئې کوچنيانو ته ورزده
اصلي او نهائي هدف ئې
عي دي. هغه فعاليتونه چې
نکه په حيث ئې سرته رسوو

موږ د شاګردانو سره په دې
رسته وکړي چې اجتماعي
ن ځنې جوړ شي او د دې
ت پيدا کړي چې د نورو
سره يو ځای ئې ژوند

که څه هم د ښوونې او
په دوران کښې زموږ د
سره سرو کار لرو او د
سره کومک کوو چې د يوه
د په حيث انکشاف وکړي
وي

اصلي غايه مو داده چې د دوي

هر يو د ټولنې د غړي په شان را لوی سي
او دا سي افراد ځنې جوړ سي چې په ټولنه
کې ابتکاري او تعميري رول ولوبوي
او خپلې قواوي د ټولنې د ښيګڼې د پاره
په کار واچوي او دې ته چمتو سي چې
د خپلې ټولنې د غړو سره د ګډ ژوندون
او همکاري په اساس ګذاره وکړي.

د دې لپاره چې انسانان يو ځای ئې
ژوند وکړي نو لږ تر لږه درې شيان
ضروري ګڼل کيږي:

۱- بايد د ژوند لپاره يو عمومي
هدف او مشترکه غايه موجوده وي.
دا هدف او غايه بايد ډير لوړ مقام ولري
څو د ټولنې غړي دې ته چمتو کړي چې
تر شخصي ګټو تير سي او د فردي منافعو
او کاميابيو مصروفيت ئې له هغه څخه
راونه ګرزوي. همدا رنګه بايد افراد
دې ته وګماري چې تر هغو کوچنيو
آرزوګانو ګام واړوي چې په اجتماعي
ژوندون کې د رزونه پيدا کوي او دا سي
خواته ئې بيائي چې د وحدت سلسله ئې
ټوکر ټوکر سي.

۲- بايد يوه دا سي وظيفه موجوده
وي چې ټوله ئې په اجراء کولو کښې
برخه اخلي. دا نو بايد د ټولو يوه ګډه
وظيفه وي او د هغې په اجراء کښې د
ټولنې ګرده غړي رول لري.

دا وظيفه بايد په کافي اندازه
مهمه او غټه وظيفه وي او په همدې
نسبت د هر چا فکر او تصور و ته متوجه
وي.

د دې وظيفې اهميت بايد په
دې اندازه وي چې له ټولو څخه
وفاداري غواړي او دا ايجابوي
چې د ټولنې ګرده غړي ټوله بدني
او روحي قواوي د هغې په سرته
رسولو کښې نه سپموي. د غسي
يو وظيفه بايد له هره پلوه اجتماعي
وي.

۳- د دې د پاره چې د غسي يو
هدف ومنل سي او د غسي يوې
وظيفې په لار کې وګړي ايثار ته
حاضر شي په کار ده چې د خلکو
تر منځ د دوستۍ احساس موجود
دي او هم وګړي دا پوهنه ولري
چې د وي له نورو سره د ګډ ژوندون
او ګډو فعاليتو په ساحه کې يوه
مشرکه غايه لري. د غسي جريانو
په نتيجه کې د ژوند د خوښي او قوت
سبب ګرزي او د نتيجه هغه وخت
لاس ته راځي چې موږ دا احساس
کوو چې د يوه مشترک ارمان د
سرته رسولو د پاره يو د بل په
همکاري کې ولاړ يو.

د دې خبرو يو کوچنو ټي مثال
د بازيو يو ټيم هم تهيه کولای
سي

ځکه يو واقعي ټيم چې افراد
ئې خپل تر منځ ښه تشکيل ولري نو
کله چې بازي کوي د يوه ګل په
حيث يو د بل په ګټه زيار باسي او
هر غړي ئې هڅه کوي چې د ګرده

ټیم دپاره فعالیتونه وکړی .
په دی جریان کښی هیڅ یو دځان
شخصی فکر نه ساتی بلکه دټیم د
ټولنی غم ورسره وی او دټوله
جمعیت دبریالیتوب دپاره ځان
ایثار وی .

فرد چه په هر ډول ټولنه کښی
اوسی، خو داخبره چه دی دټولنی
دیوې غړی په توګه ژوندون او د
ژوند کارونه کوی دده قدرت ور-
زیاتوی او دده ژوند ته انکشاف
ورکوی .

په ټولنه کښی ژوند ده ته دا زمینه
برابروی چه دځان داهمیت احساس
وکړی او له ژوند څخه خوند
واخلی . له همدی پلوه ئی لوی
بریالیتوبونه په برخه کیدای
ـــــی .

نو زموږ دښوونی په ټوله دوران
کی هدف دادی چه خپلو شاګردانو
ته دا فرصت برابر کوچه دوی په
اجتماعی ډول انکشاف وکړی
یعنی د اجتماعی ګروپونو دغړو
په صفت را لوی سی . ددغه شان
اجتماعی فعالیتو ښوونه وارد واره
باید د کوچنیو ټولنو او ګروپونو
په سویه را شروع شی او پکښی
شامل شاګردان داسی وظایفو
ته وګمارل سی چه دعمر او استعداد
سره ئی سمون ولری . ورو ورو
نو بیا د دوی د فعالیت ساحه
پراخیږی . وروسته به نو دوی
عالی هدفونه غوره کړی او سترو
وظایفو ته به لاس واچوی او په
آخر کښی به د دی کار دپاره پوره



چمتو سی چه دخپلو ملګرو په لویه
ټولنه کښی دفعالیتو برخه واخلی
او له نورو سره دګډ ژوندون په
میدان کښی دژوندانه مهارتونه
په عملی توګه څرګند کړی .
زموږ په ټولو هغو روابطو کی چه
دښوونکو په توګه ئی له شاګردانو
سره لرو او په ټولو هغو طریقو
کی دښوونی دپاره ئی په کار
اچو او په ټولو هغو افکارو کی
چی دښوونی په مورد کښی کار
څنی اخلو باید دغه نهایی اجتماعی
نتیجه په نظر کی ټینګه وساتو .

له دې بیانه داخبره راوزی
چی په ښوونه کی باید زموږ هدف
داهم وی چی دخپلو شاګردانو
سره داسی مرسته وکړ چی په دوی
کی اجتماعی احساس او د اجتماعی
مسؤلیت ادراک راپیدا سی هغه
روزنه چی شاګردان ئی په ښوونځی
کی اخلی باید دا نتیجه ولری
چی دوی په دې عادت سی چی د
نورو خلکو په نسبت دخپلو اعمالو
پر نتایجو فکر وکړی . ورو ورو
باید داورته محققه سی چی دوی
یوازی دځان لپاره ژوند نسی
کولای کله چی موږ شاګردان
په دې خبره پوهوو چی دوی بیله
ټولنی څخه خپلی اړتیاوی نسی
پوره کولای او هم دخپلو قواؤ
د په کار اچولو دپاره بیله ټولنی
څخه بل چیری زمینه نسی موندلای
نو په دې درس کی داهم ورښیو
چی دی دټولنی په مخ کی مسؤلیت
لری او لکه نور چی دده پاره کار
کوی دې هم باید دهغو دپاره

کار وکړی . په ښوونه کی داهم ورته
ویل کیږی چی لکه څنګه دوی حق لری
او له ټولنی څخه دامتیازاتو هیله ساته
دغه رنګه دوی وظائف او مکلیفتونه
لری او دې ته باید پام وکړی چی ټوله
وګړی هغه امتیازات او شیان غواړی
لکه دوی چی ئی آرزو ساتی او اړتیا
ورته لری . په دې ډول نو د اجتماعی
مسؤلیت احساس باید ورو ورو انکشاف
وکړی . دښوونی په هدفو کی باید داهم
شامله وی چی شاګردان دیو عمومی
فکر په عادت باندی وروزل شی او هر-
وخت ئی دا پوښتنه په فکر کښی وی چی :
« که هر څوک دغسی کارونه کوی لکه
زه چی ئی کوم ، څه نتائج به پر بناسی ؟
همدا رنګه لازمه ده چی زموږ په
ښوونه کی آینده په نظر کی ولرو .
دښوونکی وظیفه یوازی دا نه ده چی
هغه معلومات شاګردانو ته ورکی چی
له پخوا څخه پاته سوی دی او یا په اوس
حالت کی جاری دی بلکه د ښوونکی
وظیفه په اساسی توګه له آیندی سره
ارتباط لری .

ښوونکی هغه څوک روزی چی د
آیندی جوړونکی ګڼل کیږی ښوونکی
چی هره خبره او هر کار کوی باید
دهغو اغیزه دشاګردانو پر آینده ژوند
یاندی په نظر کی وساتی همداسی باید
دهغی ټولنی آیندی ته ئی پام وی چی
دی پکښی اوسی .

دغه د آیندی خیال ساتنه ددې خبرو
حدود ټاکی چی ښوونکی دشاګردانو
په نسبت څرنګه رویه ولری ، دده د
ښوونی طریقی باید څه راز وی ، دده هغه
معلومات چی شاګردانو ته ئی ورکوی
څه ډول وی او دژوند په نسبت کوم سلوک

پاته په ۱۲مخ کی

# زموږ اوسنی هدف

نن چی موږ دخپلو فردی او اجتماعی چارو دسمون، دژوند لوړیدو او دخپلو نیمګړتیاؤ لیری کیدو لپاره ملاتړ لی ده غواړو چی له دغی لاری او د نړو انکشافاتو او عصری قیاتو په وجه خپل هیواد پرمخ ځو او دخپلو هیوادوالو ژوند ښائسته او مترقی کړو، نو په دغسی حساسه موقع کښی موږ باید په ډاډمه لاره باندی ولاړ شو څو چی خپل اوسنی هدف کی بریالیتوب وکړو.

موږ اوس ډیری نیمګړتیاوی مشکلات لرو د عصری ژوند د لوښیګړو څخه موخلکو پوره څخه نه ده اخیستی نو موږ ته په کار دی چی دخپل هیواد په انکشافی وژو، دخپل اجتماعی ژوند په ښکلون او دملی نیمګړتیاؤ په لیری کولو کښی برخه واخلو او ژوند سم او مترقی کړو.

زموږ به خیر نوی مخ په انکشاف ان هیواد ونه چه له کلونو څخه ډیری یی په خلکو کښی قنبلی شی ځانګانی فردی منفعت او ګول نور ناوړه خویونو رواج بدلی د پریښودلو څخه دې بری وی او یادی په اجتماعی چارو دخپلو خلکو د برخی اخیستلو ته برمخ ولاړ شی.

موږ ته نن په کار دی چی دعیاشی لقی، خیانت، شخصی غرض او دځانګانی دناوړه خیالاتو څخه ځانونه وژغورو، دایثار او فدا کاری حس په خپلو ځانونو کښی پیدا او پیاوړی کړو او په ملی چوپړ او اجتماعی خدمتونو کښی برخه واخلو او دملی درد خاوندان شو.

په دغه حساسه مرحله کښی پر موږ ټولو په تیره بیا د هیواد پر منورو روشن فکرو ځوانانو باندی لازمه ده چی خپله نیکمرغی کامیابی او خوښی دټولنی په نیک مرغی لوړتیا او خوښی کی ولټوی او په ګډه کوښښ وکړو چی زموږ ترشا پاته کاروان د ترقی پړاو ته ورسیږی. او دژوندانه په ټولو اړخونو کښی مو لوړ اصلاحات راشی او ستر پرمختګونه موږ به برخه شی دانسانی ټولنی دلوړتیا ستر راز په دی حقیقت کی پروت دی چی په خلکو کی چی خپل ولس د اصلاح او پرمختګ خواته دهڅی کولو احساس قوی شی خلک په دغه لاره کښی زیاړو باسی او دخپلو ملی نیمګړتیاؤ اجتماعی نواقصو لیری کولو ته پاملرنه واړوی.

د بیدارمنو روعناصرو ډیرښت د د تعلیمیافته ډلی زیا توالی او لایقو او صادقو کسانو ته د کار سپارل یوه ټولنه او ملت لوړوی او هغوی پا خپلو ملی او اجتماعی هدفونو کښی بریالی ګرځوی او ستر بری یی ورپه برخه کوی.

اوس چی زموږ هیواد د نیک مرغی د تقا او ستر انکشاف په درشل کی واقع دی زموږ په وګړو کښی اجتماعی احساس پیاوړی او ملی درد ژوندی شوی او ټول خلک مو دې ته پاملرنه اړوی چی خپل اوسنی پریشان حالت به څه او مترقی ژوند بدل کړی.

نو راشی چی موږ ټول دخپلی ټولنی دلوړتیا دپاره په ګډه قدام وکړو خپله ټولنه د بدبختی او قیټ ژوند څخه را وګرځوو او دارتقا په لور ستر ګامونه واخلو.

## دلو یاؤ خبری

ډیر بی فائده دی به وی چه د راتلونکی ژوند د خواته تل وګورو او دهغو د نیکمرغی دپاره کار ونه کړو (پاریس)

هیڅوک او هیڅ شی تاسو ته بیله تاسو څخه ادیت نسی رسولای یعنی دادیت سبب تاسو په خپله یاست. (هوبارد)

څوک چه خپله بډایی او پانګه په عاقلانه ډول د نیک مرغی او بریالیتوب په لار کښی خر څوی د مشکلاتو او مصیبتو څخه ځان خلاصوی لا کن هغه اشخاص چه خپلی پانګی او بډایی ته ګوری او د هغه به زیات والی بسی دی خپل ځان ته مصیبت او بلاوی ډیروی له خپلو وطنوالو ورو ګو څخه نه باید هغه شیان وسپموی کوم چه د ځان دپاره ئی غواړی او ضرورت ورته لری.

(افلاطون)

د محمد علی (خواجه) ژباړه

# اجتماعی عدالت

زموږ په هیواد کښې د څو کلو را په دی خوا د (اجتماعی عدالت) کلمې د ژبې پر سره وده او عام و خاص په هر ځای کښې ئې یادونه کوی

، داسې پر یښوی لکه چې د دغه مطلب په هکله تر اوسه پوری هیڅ خبر نه دی شوی او څنګه چې ښائی مفهوم ئې نه دی روښانه .

د ځینو خلکو دا ګمان دی چې اجتماعی عدالت یو ټاکلی او مشخص شی دی او لازمه ده چې په هر ځای کښې چې دوی وی

د دوی په واک او اختیار کی وي ، یوه ډله بیا په دی عقیده دی چې اجتماعی عدالت او د هغه واک د حکومت او د څو محدود کسانو

په لاس کی دی ، دا ډول غلط فیصله او ګمان د دی سبب کیږی چې د خلکو زیاته برخه د هغه شی په

سر ته رسولو باندی مکلف دی له یاده وباسی او د خوش بینی پر ځای ، ټولنی ، د ژوندانه چاری ، هر شی او هر چا ته بدبین اوسی ، ښائی چې حکومتونه د اجتماعی عدالت په تعمیل او خپرونه کښې د قانون

د حکم سره سم پخپله برخه کی وظیفی لری چې باید سر ته ئې ورسوی او په داسې اقداماتو

باندی لاس پوری کړی چې د ټولنی دوګړو ترمنځ هیڅ ډول توپیر

تیری او تعدا پیښه نه شی او هڅه وکړی چې دوس او امکان په اندازه د علمی او عملی پلانونو په طرح کولو د هیواد د هر وګړی لومړنی هیلی تر نظر لاندی ونیولی شی .

د نیکه مرغه څنګه چې څرګنده ده دغه آرزومندی د کلونو را په دی خوا د حکومت جدي پاملرنه ځان ته اړولی او عملی مظاهر ئې د ژوند په ټولو برخو

کښې په تیره بیا د روغتیا ، پوهنه ، عمرانی او اجتماعی چارو کښې په (نسبی صورت) سره احساس کیږی .

څوک چې هر شی د احساساتو په اساس پر تله کوی د دغه حقیقت څخه انکار کوي خو علم پوهه او سلیم منطق دا وائی چې پر یو هیواد باندی د بې عدالتی کولو نوم پوری کول پخپلی بی

عدالتی ده .

که څه هم کارونو ته ګوته نیول ناخوښی او ګیله ګذاری د انسانانو خاصه بلل کیږی خو زموږ په هیواد کی د دغو صفتو اصلی بڼه مسخ شوی او د

(مود) په پرده کی داسې ننوتلی دی چې ډیر خلک ښه د خیر او ښایسته کارونه د ځان بولی او ناښه او بی خونده کارونه نورو ته راجع کوی .

دا منم چې په ټولنه کی ځینې وګړی شته چې د سمی لاری او د عدل او قانون له لاری غاړ غړوی چې د هغوی عملونه د بدبینی او ناامیدی پیدا کونکی دی .

خو ځینی داسې کسان هم پیدا کیږی چې د عدالت انصاف اوسړی توب له

لاره لیکی څخه یو پل هم غلط نه ایږدی او تل په دغه لټه کښې وی چه عامه هوسائی تر سره او حق خپل حقدار ته ورسیږی .

په هر صورت یاید ووایو چې یوه داسې ټولنه نه پیدا کیږی چې د اجتماعی عدالت څخه څنګه چې ښائی په بشپړه توګه برخوردار ه وی . مګر په داسې حال کی

چې د هغی ټولنی وګړی عادل او د عدالت عامل وی .

زموږ په عقیده د اجتماعی عدالت اساسی او بنسټ د هر چا

خپل وجدان او ایمان دی او دا کار لازموی چې هر سړی د عدالت ډیوه د خپل کړه وړه په لار کی روښانه کړو او د خپلو ځانو په اصلاح او سمون پسی شو . که چیری موږ په دی تمه شو چې نور خلک

عدالت وکړی او موږ له هغه څخه ګټه واخلونو پخپله انسانی وظیفه کښې به موتمبلی او ناغیړی کړی وی او زموږ ټولی هیلی به بیځایه وی .

د ټولنی دوګړو د اجتماعی عدالت طرز العمل په دغه منطق پوری تړلی دی چه هیڅ یو نظام نشی کولای چه په هر سړی باندی د هغه د کړه وړه د څارنی لپاره بل نفر مؤظف او مقرر کړی او که داسې وشی نو خبره تسلسل ته رسیږی .

د دی ټکی څخه هم انکار نشی کیدلای چه بیره او هیله د هر چا سره

پاته په ۱۳ مخ کی

له کابل څخه راليږنه

ښاغلی اغامحمد [کرزی]

# دلته هم پسرلی دی

## او

## هلته هم پسرلی وو

وروسته له ډېری مودی زما داهیله ترسره شوه چی د هیواد شمالی برخی له نژدې څخه ووینم .

ما چی تر اوسه د سالنګ لویه لار نه وه لیدلی نو دا ارمان زما په زړه کی غونځیدی

چی کله به د خپل وطن دا د عظمتونو او د تاریخی ماجراګانو ډکه لار چی زموږ د عصر شهکار ګڼل شوې ده دامید په ډکو سترګو ګورم

څو د ځینو دوستانو په مرسته زموږ کاروان د کندز په لوری به خوځیدو پیل وکړ د ما پښین دوې بجی وی چی د پروان په ښکلی سیمه کښی زموږ ګړندی موټران د سالنګ په لوری په ډېره بیړه روان ؤ .

په آسمان کښی خړی اوریځی یو په بل پسی راتاویدلی او وړ، وړ باران اورېدی چهاریکاره ته نژدی کوچنیو هلکانو راز، راز لاله ګلونه په لاس کی ګل فروشی کوله د لاله دې ښایسته اورنګارنګ ګلونو ماته د بربا د کتاب هغه

لیکلی مضمون را په یاد کړ چی وایی د پروان په سیمه کښی د پسرلی پروخت راز، راز لاله ګلونه راشنه کیږی چی یو وخت ما تر پنځه دیرش پوری وشمیرل د ګل غونډی دارغوان په زړه پوری ننداره وشوه او یو ګړی وروسته د

سالنګ په دره ورننوتو .

څومره چی سالنګ ته ورخیژو هغومره هوا زړه وړنکی کیږی دلته ونو په برګ بار نوی شروع کړی وه د سالنګ سیند چی په ډېر مستی بهیدی هر کتونکی ته ئی شاعرانه بدیع ذوق باخښه .

څومره چی پاس ختلو هغومره د دې ستری لاری د مهندسی په مهارت مو آفرین وایه او له شاوخوا کتلو څخه مو خوند او کیف اخیستی .

تونل ته ډېر نژدې غرونه په ګرزو غبار کی پټ وه او باران په شرپ اورېدی هوا ډېره سړه وه دلته موږ (۱۴۰۰۰) فوټه لوړ تللی ؤ ځکه غوږونه رپیدل او دستړیا احساس کیدی .

تونل د علم او ټکنالوجی په کمال سره جوړ شوی ؤ . څراغان بل او لا ره ئې روښانه کړی وه .

کله چی زرغونه څراغان ولیدل شوه یو ملګری وویل چی اوس موږ د سالنګ وروستنی څوکی ته را ختلی یو او له دې وروسته مخ پر شیوه روان یو .

څه ساعت د اوریځو په لړو کی موټر سوکه روان ؤ چی مخ مو راوګرزاوه د خنجان ښکلی منظری ته راغلو چی مست سیند ئې له اړخه په شور او ږوږ بهیدی او مخ پر کښته په نڅا روان ؤ .

څومره چی موسفر ته ادامه ور کوله د ماښام تیاره خپریده او زه په دی ډېر متاثر وم چی د شاوخوا ځایونو د لیدو څخه محروم شوی یم .

دلته یو ملګری وویل چی د خوا بدی ځانه دی په راستنیدو کی به د دی لاری څخه پوره خوند واخلی .

دسترګو په رپ پل خمری ته او بیا وروسته بغلان او بیا کندز ته را ورسیدلو دا څو ښارونه ډېر یو وبل ته څرمه او نژدی پرا ته دی او دی

نوی لاری نور هم بیخی یو له بله سره پیلی دی .

شپه په کندز کی په داسی حال کی چی باران په شرپ اوریدی دخوږو ملګرو سره تیره شوه سهار شیر خان بندر ته چی د آمو پر غاړه پروت دی ولاړو کندز ښار موله موټر څخه ولیدی او دخپل هدف په لوری وخوځیدو د ښار د باندی چی څه اورشو ته سولو طبیعت خپل جمال او ښکلا ښکاره کړه .

دسعدی په وینا په واقعی معنی سره فرش زمردین غوړیدلی ؤ او د بیدل چمن آئین مصداق پیدا کړی ؤ .

کاظم خان شیدا څه ښه ویلی دی :

دغنچی درباط ورپه وا کیدو دی
قافلی درنګ وبوی درومی سباشو

ونی شنی ، دښتونه شنه ، غرونه او غونډی شنی او زرغونی وی دسړک دغاړی دغونډیو په لمن کی دلاله ګلونه دومره راټوکیدلی وه چی تا به ویل په شنه چمن کی داورلمی دی ، د آسانو ګلی څریدلی دمیږو او وریو په زرګونو رمی دشنو بیدیاؤ ښایست زیات کړی وو .

په تیره بیا دکوچیانو توری کیږدی په دی شنو چمنو کی دومره زړه راکښونکی وی چی دانسان سترګی ئی په لیدو نه مړیدی .

ماته په کندهار کی یو ملګری همیشه ویل چی کرزیه تا پسرلی کورټ لیدلی نه دی . په رښتیا چی ما پسرلی او د پسرلی د ښکلا مظاهر بیخی لیدلی نه وه دلته زما زړه او روح دجمال مجذوب ؤ او ددی سمسوری او پر فیضی سیمی له مځکی او آسمانه می خوندا خیستی او څومره چی به مو نظر زغلاوه یوه لویشت توره مځکه په سترګو نه راتله .

دخیالاتو په دی څپڅپانده سیند کی ماته ستا پسرلی هم راپه یاد شول چی نه ئی په غرونو کښی ژیړ ګلونه شته او نه ئی په دښت او راغه کی دسرو ګلو لمبی پورته کیږی .

ماته ستا د آسمان وچی او بی فیض او رېځی هم راپه یاد سوی .

ما ستا هغه ورځی هم ډیری ولیدی چی یو څاڅکی باران دی له خدایه په دعا او ژړا غوښت .

ماته ستا وچ ډاګونه ، سپیره دښتونه او تور غرونه هم راپه یاد شول ماته ستا په دښتونو او بیدیا کی خال ، خال ګلونه هم راپه زړه شول چی دیو څاڅکی باران په تمنا ئی مخونه تک ژیړ شوی وه .

ماته ستا د ترنک ، دامان ، ارغستان ، کدنی میل ، ژړی او میوند وچی میری هم راپه یاد شوی ماته د پسرلی په دی سمسور او زرغون مهال کښی چی د طبیعت هره برخه یی له ډیری مستی او خوشالی خاندی بزګر او مالدار ئی دامید په ډکو سترګو دخپل سباد ثمر بخښونکی محصول انتظار لری .

ستا سپیره او سوځندریګونه هم راپه یاد شول چی نه دیو انسان وچی شونډې لندولای شی او نه یو حیوان په ګیډه مړولای شی .

ماته ستا خوار بزګر او مالدار هم راپه یاد شول چی نه د کال شومه لری او نه د روزګار هیله او امید .

نو ځکه له ځان سره می په ډیر حسرت وویل چی لویه خدایه دلته هم پسرلی دی او هلته هم پسرلی ؤ .

☆☆☆☆☆☆☆
★✤★

عبدالصمد «نصرخوا»

# په قدیم آریانا کښې د جشنو او اختر وطرز

که څه هم د نړۍ مختلف ملتونه ورځ په ورځ پرمخ ځي او د دوی خصوصیات او ممیزات د تیر شو وزمانو سره تو پیر مومي خو بیا هم هیڅ ملت نسي کولای چې پرخپلو تیرو ټولنو او دهغو پرخصوصیاتو سترګې پټې کړي او دهغو په برخه کې تحقیق ونه کړي، ځکه دهغوی خصوصي او باستاني عنعنات دهري ټولنې لپاره ضروري او لازمي وه او واقعا هر څوک چې د تاریخ سره مینه او علاقه لري نو هر ومرو په دا ډول چارو لاس وهي هره ټولنه که څه هم درشد او تکامل په حال کښې وي خو بیا هم ځانونو ته بهل بهل خصوصي سنن او رسومات لري چې دهغوی په ټولنه کې لوی او باارزښته نقش لري دا ډول ممیزات او خصوصیات کله کله د دین او مذهب په برخه کښې وي او کله کله تاریخي ادبي، اقتصادي او سیاسي جنبه لري د دوی دغه رسم او رواجونه کله د زماني په تیریدو له منځه ځي او کله پایښت پیدا کوي خو دلته زموږ مطلب دا دي چې د خپل باستاني آریانا پر ځینو جشنو او اختر و باندي چې د پرون ورځي خراسان او ننني افغانستان بلل کیږي رڼا واچوؤ او څیړنه وکړو.

## د جشن د کلمې معنی او مفهوم

د جشن کلمه په (اوستا) کښې د (یسنه) (Yasna) په شکل راغلې ده چې دهغه څخه مرام پرستش او لمونځ کول دي او که په ترکیبي ډول یعنی (مزدیسنه یا مزدیسنا)[1] وویل شي هم پورتني معنی ورکوي اما د سانسکریټ په ژبه کښې د یسنه کلمه په (یحنه) (Yahna) سره او په پهلوي ژبه کښې په (یزشن) Yazashn سره راغلې ده خو په فارسي کې ئې د جشن شکل و ځانته پیدا کړیدی.

دی کلمې په مختلفو وختونو کې د قاموس لیکونکو توجه ځانته جلب کړیده ابو منصور علي د اسد طوسي زوی چې په (٤٦٥) هـ کال کې وفات شویدی پخپل قدیمي او لومړني فارسي فرهنګ کښې د جشن کلمه په (اختر او د شرابو په مجلس) راوستي ده نورو فرهنګ لیکونکو هم د جشن کلمه په داسې معنی ؤ راوړیده چې ټوله یو له بله نژدې مشابهت سره لري د برهان قاطع لیکونکو د جشن معنی عیش، خوښي، کامراني او د خوشحالیو د میلمستیا مجلس بولي چې په عین حال کښې د اختر معنی د افادي متضمنه هم ده همدا ډول د عمید فرهنګ په دغه برخه کښې لیکي چې جشن د یوه مسرت امیزه امر بلنه او د اختر د خوښي بساط دي.

د آریا په باستاني دورو کښې د جشن د کلمې بیان د نني عصر د جشن د مفهوم سره برابره وه خو په دوی کښې دغې کلمې د اختر معنی هم درلوده یعنی په لومړي صورت کښې ئې د نشاط او خوښي په توګه او په دوهم صورت کښې ئې مذهبي جنبه درلوده له څرنګه د (یسنه) کلمه یعنی اوستا معنی جشن، لمونځ او عبادت کول وه نو ځکه د قدیم افغانستان جشنونو نو مذهبي او غیر مذهبي جنبې غوره کړي وي د عید او اختر کلمه چې مذهبي بڼه لري د تازیانو د نفوذ نه وروسته منځته راغله او د اسلام د دین د تسلط وروسته زردشتي او بودایي اعیاد ټوله له منځه ولاړه او نن ورځ غیر له نامه ئې بل څه نه دي پاته.

په قدیم آریانا کښې د جشنو ډیر ښه استقبال کیده دغه

---

[1] مزدیسنا ـ هغه ژبه ده چې یوه حصه د اوستا په لیکل شویده او په بل عبادت د زردشت د دین ښکارندوی ده دغه کلمه د دؤ خبرو څخه تشکیل ده یو بی مزده چې معنی ئې پوه او په عرف کې (د یوه خدای معنی لري) او بل جز ئې یسنا ـ چې د پرستش معنی لري په مجموعي ډول د هغو معنی (د یوه خدای عبادت کول دي).

دغه مراسم چه مذهبی جنبه ئی هم درلوده په ډیره خوښی او نشاط سرته رسیده او په هغو کی به ئی ډول ډول نغمی او آوازونه برپا کوله او دیوه عالم خوښی سره د دغو ورځو نمانځنه ئی ادا او پرځای کول خو څرنګه چه وویل شوه دغه عنعنوی جشنونه د زمانی په تیریدو سره له منځه ولاړه خو ځنی یی لکه دغیږی ایستلو او نوروز جشن تر اوسه په تغیر د شکل پاته دی .

## دغیږ ایستلو یعنی کشتی مفهم

په فارسی کی د کشتی د کلمی ریښه په اصل کی د پهلوی (کستیک) Kastk څخه اخیستل شویده په اوستا او نورو ډیرو کتابو کښی د هغه معنی هغه مخصوص (ملاوستی کمربند دی چی د زردشت و پیروانو ته ورکول کیده د ځینو په عقیده دغه لغت د کست KOST له ماوی څخه چی په پهلوی ژبه کی څنګ او طرف معنی لری اخیستل شویدی او په فارسی کی د کست او کشت کلمی هم دغه معنی احتوا کوی او د کشت ریښه هم د کست څخه ده .

د کشتی د کلمی مراد هغه ملاوستی څخه دی چی پرملا تړل کیدی نو ځکه کشتی ، غیږ نیول عبارت دی د دو نفرو د مقابلی او هغه مخصوص کمربند څخه چی د غلبی لپاره تړل کیده کشتی د زنار په معنی هم دی او دا هغه کمربند ؤ چی هر زردشتی د هغه په تړلو مکلف ؤ کشتی یا د دین بند چی مذهبی شکل یی درلود د آریانا د مذهبی مشرانو او روحانیونو له خوا په دی ډول جوړیدی ، د سپین پسه دوړیو څخه به ئی ۷۲ تاره واودل او هغه به ئی بیا پر ۶ برخو چی هره برخه ۱۲ تاره وه وویشلی چی د ۱۲ څخه مراد ۱۲ میاشتی وی او له ۶ څخه مراد ۶ مذهبی اخترونه وه څرنګه چی دا کمربند ۳ واره پرملا تړل کیدی خو د هغه مطلب بیا د (مزدیسنا) ۳ اصله لکه (ښه ویل) (ښه کول) او ښه ګمان کولو ته اشاره وه - او د زردشت په دین کښی هر یو مکلف او مجبور وو چی په ۷ کلنی کی دغه د بندګی بند وتړی خو په ۱۵ کلنی کی د هغه نه تړل لوګناه ګڼل کیده .

په افغانستان کښی دغه رسم ډیر اوږده سابقه لری او د مزدیسنا د سننو له مخه دغه طریقه د زردشت له مخه وه او د لومړی محل لپاره بلخی جمشید منځته راوړه او دا معمول په پیړیو پیړیو پاته شو چی د هیواد شمال برخه کښی لکه بدخشان قطغن او تالقان کی دا رسم مروج دی او هغه څوک چی د ځوانی او شباب مرحلی ته داخلیږی هغه ته هغه کمربند چی (فوته) FOATA نومیږی تړل کیږی او روسته د عمل په ډګر کښی قدم ایږدی د دی څخه معلومیږی چی د کشتی د تړلو رسم د دی خاوری څخه نشئت کړیدی او څرنګه چی بلخی جمشید هم د دی خاوری ؤ نو ښائی چه دا رسم وروسته تر هغه چی په دی باستانی خاوره کښی ښکاره او رواج شو و نورو ځایو ته سرایت کړی وی .

په قدیم افغانستان کښی د کشتی تړلو جشن د هند د اوپانیته د جشن په شان ؤ او له ډیرو زمانو څخه د دغه دوو ځایو اوسیدنکی په دغه قدیمی رسم کی شریک او ګډوه صرف په دی تفاوت سره چی په افغانستان کی دغه د بندګی بند هلکانو او نجونو ته تړل کیدی او په هند کی دغه کار یوازی په هلکانو پوری اړه درلودل او بل دا چی زموږ هیوادوالو تر کشتی لاندی صدره یعنی مخصوصه جامه هم کول خو په هندوانو کی دغه کار رواج نه ؤ یوازی ئی یوه رشته تړل چی هغه هم ورووروله منځه ولاړه د بند د تړلو په جشن کښی به د هلکانو پلارو میندو او نورخپلوانو ګډون کاوه او د خپل توان په اندازه به ئی دعوت ترتیب کړی ؤ په دغه مراسم کی د زردشتی کیش سره سم دغه بند به د مذهبی شر له خوا و هلک ته وتړل شو خو وروسته به بیا هلک د هغه د خلاصولو او تړلو صلاحیت د ځینو شرایطو له مخه درلودی یعنی که به سهارو مخ په ئی دلمر ختو وخواته کی او که به ماښام ؤ نو مخ بی ئی دلمر لویدو خواته کی او د شپی په برخه کی بی دغه کار وسپوږی او یا څراغ ته کاوه مخکښی د دی چی هلک ته صدره او کشتی وتړل شی غسل ورکول کیدی او بیا د څو پروردګانو تر نمایش وروسته د یوه روحانی له خوا دغه مراسم پرځای کیدله او د څه دعا کولو وروسته محفل پایته رسیدی .

(پای)

(د۴مخ پاته)

## دښوونی هدف

ره کړی .

ښوونکی باید خپل شاګردان
سی تصور نکړی چی دوی صرف
ښی غوندی شیان دی او دی په
لوښی کی هغه معلومات اچوی
له پخوا زمانی څخه پاته سوی
ی . بلکه ښوونکی باید شاګردان
ه بالقوه او خلاق قدرتونه
ګڼی چی د دوی تعمیری فعالیتونه
په آینده کی ټولنی ته نوی روح
کی او د پرمختګ د واقعی
املو په شان به خپل رول و لوبوی
ونکی چی دغه راز فکر ولری
خپل معلومات په دې ډول
ګردانو ته ورکوی چی دهغو
شخصیت په اجتماعی انکشاف
مرسته وکړی او دده د نظر
ق ترهغه چاډیر پر اخ وی .
ی ښوونی ته یوازې د تیری زمانی
معلوماتو د انتقال په سترګه
وری .

څوک چی په ښوونه کښی
نده په نظر کی نیسی نو دغه نظر
غو طریقو په ټاکنه کی هم پوره
رلری چه ښوونکی کار څنی
لی . د ښوونی د طریقی په برخه
ښی د معلم نظریه په دې احاطه
ښی نه ده محدوده چی څرنګه یوه
صه موضوع او یا د موضوع یوه
کلی جنبه تدریس کړی .

دغه راز محدودیت په خپل
ی کی اهمیت لری خو هر څه
طریقه ده دهغی دائره ډیره
اخه او له دغه محدودیته وتلی
ښوونکی چی آینده په نظر
ی ساتی او د ښوونی نهائی
تماعی هدف خپل معیار ګڼی
د دې خبری درک کولای سی

چی دده د کار ډیره مهمه جنبه هغه رابطه ده چی دده او د شاګردانو ترمنځ وجود لری او هغه څه چی هدف ته درسیدو په لار کښی دده سره کومک کوی هغه طریقی دی چی د خپلو شاګردانو سره د سلوک په برخه کی کار څنی اخلی . معلم ښائی دې خبری ته متوجه وی چی دی د یوه شخص به حیث څه راز کولای سی د خپلو شاګردانو سره داسی مرسته وکړی چی هغه خپلی قوی وی پوره په کار واچوی او د کاملو انسانانو په صفت انکشاف وکړی . دغسی انسانان ضرور باید په اجتماعی لحاظ پوره وده وکړی . د دې بیان مفهوم دادی چی ښوونکی باید په دې خبره سر وګرزوی چی څه راز کولای سی د ځان او شاګردانو ترمنځ ثمر بخښونکی او خلاق روابط تاسیس کړی او څه رنګه د شاګردانو سره دا مرسته کولای سی چی هغه یو له بله رښتینی اجتماعی روابطو ته ورو ورو خپل ترمنځ انکشاف وکړی .

ښوونکی باید دې ټکی ته ملتفت وی چی څرنګه شاګردان تر تاثیر لاندی راولی او په هغوی کی دا فکر وروزی چی په موجوده معلوماتو او کامیابیو سر کښته نکړی بلکه د یوه وسیع نظر په ساحه کښی پر له پسی تلاښونه کوی ؛ او هم داسی نه وی چی یوازی د نورو نظریات د ځان لپاره کافی ګڼی بلکه باید خپل ذهنی او احساساتی خپلواکی ولری او غواړی د شیانو په باره کښی د خپل فکر او خپل احساس خاوندان سی .

د دغو خبرو په اساس نو لازمه ده چی ښوونکی د ژوند هغو اهدافو او مقاصدو ته په زیات غور توجه ولری چی دده د شاګردانو له خوا څخه د ځان لپاره ټاکل کیږی .

کله چی شخصیت انکشاف کوی نو د دې لپاره چی یو پیاوړی او فعال عنصر څنی جوړ سی دا لازمه ده چی باید یو ستر هدف ئې د ځان لپاره غوره کړی وی . د هدف ټاکنه زیاتره د بلوغ به دوره کښی سر ته رسیږی خو د دې د پاره چی شاګرد د ژوندون یو باارزښته هدف غوره کړې نو باید له هغه وخته لا ده ته لا رسمه سی چی وار دواره ښوونځی ته راځی او په ټوله ښوونه کښی همدغه هدف په نظر کښی

وساتل سی څو چی په ډیر بریالیتوب دغه حیاتی وظیفه اجراء سی دغه کار یوازی په مستقیمه ښوونه او هدایت سر ته نه رسیږی . هغه تلقینات او الهامونه چی شاګردان ئې په لاشعوری توګه د ښوونکی د ژوند او د هغه د سلوک له مخی څخه اخلی پر دوی خورا زیات تأثیر لری . همداسی کله چه بیل بیل مضمونونه لکه تاریخ، ادبیات او ساینس تدریس کیږی نو داسی ډیر مجالونه پیدا کیږی چه د هغو په ترڅ کی د باارزښته هدفونو ښه مثالونه وړاندی سی . په همدی مورد کښی آیډیالوجیکی تعلیمات اساسی وظیفی اجراء کوی .

په ښوونه کی چه راتلونکی نتائیج تر نظر لاندی نیول کیږی او هم د ښوونی اجتماعی اړخونه پالل کیږی نو د همدی کار پر بناء باندی د هغی استفادی حدود ټاکل کیدای سی چه ښوونکی ئې د تیرې زمانی له معلوماتو او حوادثو څخه کولای سی . موږ باید هر کله د ښوونی د پاره لازم مواد انتخاب کړو . په هر لوست کی او د لوستونو په هره دوره کی د ټاکنی او غوره کیدو په اساس باید مواد انتخاب سی کله چه درسی پروګرام جوړیږی نو په هغه کی باید ګټور مضامین انتخاب سی . موږ هر شی او هر څه نسو تدریس کولای .

انتخاب او ټاکنه باید د اجتماعی هدف له مخی سرته ورسیږی.

موږ باید د ښوونی د پاره داسی مواد غوره کو چی د شاګردانو سره په دی لار کی مرسته وکړی چی د اجتماعی احساس او اجتماعی هدف څښتنان څنی جوړ سی. موږ باید له دوی سره، کومك وکړو څو په دی خبره پوه سی چی په پلانی ځای کی او په پلانی سبب انسانان پخوانه دی بریالی سوی چی اجتماعی هدف ته ورسیږی او همدغه بیان باید په تیره د تاریخ په درس کی پوره وروښوول سی. د ښوونی د پاره باید داسی مواد او مضامین وټاکل سی چی شاګردان دی ته چمتو کړی چی په موجوده مرحله کی د اجتماعی انسانانو په حیث پوره انکشاف وکړی او هم ئی په ټولنه کی راتلونکی ژوند ته په کامله توګه آماده کړی. یا په بل عبارت موږ باید د تیری زمانی له مواد و څخه د راتلونکی زمانی په ګټه استفاده وکو، په همدې دوران کی باید ښه شیان له بیکاره شیانو څخه جلا کو او هغه درسونه تلقین کړو چی د تیری زمانی له کامیابیو او ناکامیو څخه اخیسته کیدای سی. خو دا کار چی څه باید تدریس کو او په څه طریقه ئی تدریس کو هر کله د هغو اهدافو له مخی تعین کیدای سی چی د راتلونکی زمانی په منظور غوره کیږی.

کله چی موږ د خپلی ښوونی د پاره اجتماعی هدف لرو او هم آینده په نظر کی ساتو نو د دی مفهوم دا دی چی موږ باید لږ او ډیر د هغه لاری په باره کی روښانه مفکوره ولرو چی غواړو پکښی ولاړ سو. دغه کاردانه لازموی چی موږ باید په دی برخه کی یوه ټاکلی او مفصله نخشه ولرو چی راتلونکی ټولنه باید څه رازوی. خو دا بیا ضروری ده چی د هغه مقصد او هدف په باره کی چی کار ورته کوو یو عمومی توافق موجود وی او هم یو عمومی لارو لیکه چی په هغه کی غواړو پر مختګ وکو باید معلومه وی. لیکونکی په دی عقیده دی چی ډیموکراسی د ښوونکی د پاره دغسی یو عمومی تګ لاره سر ښته کولای سی. د ژوند رشتیانی ډیموکراتیکه لار هغه لار ده چی د هغی د پاره موږ د شاګردانو په چمتو کولو کی مرسته کوو.

او س ډیموکراسی او د ژوند ډیموکراتیکه لاریوازی په سیاسی نظام پوری اړه نلری بلکه په دی کی مطلب او مقصد دا دی چی ځوان نسل پر سمه لار رهی کړی، دوی ته هدف وټاکی چی د هغه د پاره باید زیارو کاږی، دوی ته اصول وروښئی چی د هغو سره سم د ژوند ټوله اړخونه سامبال سی، په دوی کی ابتکاری هڅه او دسترو کارو د اقدام روحیه راپیدا کړی څو دوی آماده سی چی د بشریت په هغه پر مختګ کی سهم واخلی چی د پوره ډیموکراتیک ژوندون خواته ئی لار اخیستې ده.

ښوونکی په دی پوهیدای سی چی ډیموکراسی لااقل د تیوری له پلوه څه مفهوم لری.

دوی د خپلو ملګرو سره د ډیموکراسی په برخه کی سهم اخیستای سی او دا ازموینی کولای سی چی د ډیموکراسی هدفونه د عملی کیدو په جریان کی واچوی، لاکن د ښوونکو لوی کار به داوی چی شاګردانو ته دا تلقین کړی چی ډیموکراسی څه شی ده، او د ډیموکراسی عقیده پکښی وروزی او دا عزم پکښی راپیدا کړی چی خپل نهائی زیارو باسی او ټولنی ته له هره پلوه یو ډیموکراتیک رنګ ورکړی. که ښوونکو د ژوند ډیموکراتیکه لار د آینده د پاره د یو هدف په توګه ومنی، نو په دی اساس هغه اصول ټاکل کیدای سی چی باید دې له هغو سره سم کارو کړی. همدا رنګه هغه طریقی تعین کیدای سی چی دی استفاده څنی کوی او هغه لوری معلومیدای سی چی د خپلو شاګردانو لار ښوونه ورته کوی. له دې خبری څخه انکار نسی کیدای چی آیندې په جریاناتو کی ښوونکی ډیر مؤثر دی. که څه هم دی د درسی کوټی په یوه ګوټ کی ناست دی خو کولای سی له بشریته سره په هغه مبارزو کی مرسته وکړی چی د ښه ژوند د راتلو د پاره روانی دی او یا په هغو کارو کی امداد وکړی چی او سنی تمدن ړنګوی او د محوی خواته ئی بیائی. هر ښوونکی ضرور هغه څه انتخابوی چی د کړو آرزوئی لری.

(پای)

# اجتماعي عدالت

ته څه چې وايو يا ئې کوو د اوده
عنصر ه په هغه کې بې تاثيره نه دی
که بيره منځ ته راځي دقانون د
تحراف او خجالت څخه وي او که
پله پيدا کيږي دهغه د ښه عمل
بدلی او اجوري انګيزه وي .
اهيلی او نياز مندي د ټولنو په
ابتدائي حالاتو کښې ذيات ليدل
کيږي ، کله چه د يو هنې او روزنې
کبله وګړي خپلې فکري ودې
ته ورسيدل ټول فردي او اجتماعي
تکلفيتونه ملکه کيږي چه په هغه
وخت کې نه بيري ته ضرورت وي او
هيلو ته ، په دغسې ټولنو کښې د
انون ، پلټونکي او پوليسو پر
ځای دسړي زړه او وجدان
حکمراني کوي او دغه باطني
ځايه وسيله هر سړي خپل او د بل
حق پيژني او دهغه احترام او
ساتنه کوي او په دغه ترتيب د
ټولو طبقاتو او افرادو ترمنځ په
ابادي او عملي توګه اجتماعي-
عدالت پراختيا مومي .

په اوسني زمانه کښې هغه
ټولس کولای شي چه دزمانې له پيښو
څخه ځان بچ کړي چه دخپل محيط
او ټولنې حالات د پوهې منطق او
سليم قضاوت پر اساس مطالعه او
د علت تر پيدا کولو وروسته
زړه له کومې دهغه چاره او اصلاح
ته شي ، خپل وجدان ستر ګې
ته ول ، ټولو پديدو او ارزښتونو ته
د منفي نظر کتل او له حقيقت څخه
ګار کول د مصلحت او خيرلارنه ده .

زموږ په ټولنه کې چې دزده
کړې (ليک او لوست ) فيصدي
بيره کمه او اجتماعي روزنې
ده نده کړي په عمومي بشپړه توګه
اجتماعي عدالت ته تحقق
ورکول دمشکلاتو نه خالي نه دي دا ځکه
چې ځنګه چې وموويل ترڅو چې دهيواد ټول
وګړي يو تر بله د راستي ، صداقت او
حق ويلو طريقه غوره نکړي او هر څوک
په هر کار کې چې دي دادا او انصاف
خپله وظيفه ونه ګرزوي زموږ د ملي
آرزوګانو په ښ کښې به ډيرلږ د ترقي
او پرمختګ ګلان وغوړيږي .

که د بد بيني عينکې دخپلو سترګو
څخه لرې کړو او خپلو اداري او
اجتماعي کډوډيو باندې بې له هرډول
بغض ، رخي او بد بيني څخه يواځې او
يواځې دعيني واقعيتونو له مخې فيصله
وکړو نتيجه به ئې داوي چې هر شي
موږ ته رسيږي زموږ دي يعني زموږ
داعمالو انعکاس دي او دهيڅ يو مقام په
هغه کښې دخل نشته د مثال په ډول هيڅا
هغه رشوت خوړ ته نه دي ويلي چې دخپل
ورور کارد پيسو په تمه پخپل وخت کې
ترسره نکړي يا نن او سبا ئې وغو لوي
او مياشتې وربا ندې تيرې شي ، د کاندارانو
ته هيڅا ندې ويلي چې د نرخونو په لوړ
ولو کې سيالي وکړي ، زده کونکو او
محصلينو ته ندي ويل شوي چې ليک او
لوست ونکړي .

خو ځنګه چې هغه شوت خوړ د اتفاق
له مخې يا د قانون د تعقيب له کبله په لومه
کښې بندشي او د رسوائي نغاره ئې په
هر بازار کې وډنګيد له يا هغه د کاندار
د ښاروالي په تعقيب سره جريمه شي يا د
هغه متعلم پرتندي باندې د ناکامي ټاپه
ولګيدله . ټوله د بيعدالتي څخه ناري وهي
او وايي چې بوښتنه او بازخاست نشته ،
عجب انصاف دي چې د مسلمانانو مالونه
وړي او کله چې ستا مال چا يوړ نا دي
وهي چې مسلماني نشته .

د اسلام سپيڅلي او پاک دين له نورو ټولو
اديانو د اسلام په ارزښت سره عدالت
خوښوي او هغه له تقوا څخه شميري دغه مسئله
د اسلام له نظره تبليغاتي او تشريفاتي
جنبه نلري بلکه د اسلام او د دنيا
تاريخ د دي خبري شاهد دي چې
دغه غوښتنه کلونه کلونه په
اسلامي ټولنو کښې به عملي توګه
تحقق موندلی او د اسلا ماالار-
ښودنکو او مشرانو څخه به دغه
باب کې کار نامې شته .

که چيري زموږ سره د آسماني
مضبوطو احکامو او د بشري
قوانينو د ټينګار او اخطار سره
بيا هم دسمې لارې څخه واړو او هغه
شي چې موږ د انتقاد ګوته ورته
نيسو پخپله هغه ته لاس واچوو نو
هر زيان او تاوان چې موږ ته پيښ
شي هغه به زموږ د عملونو انعکاس
وي او دهغه لپاره به دوا او چاره
نه وي .

راځي موږ اوتاسي هر څوک
چې يو او په هر کار کې چې يو
د اجتماعي عدالت د تأمين او د ملي
سپيڅلي هلې د ترسره کولو لپاره
لومړي خپل ځانونه اصلاح کړو
او که چيري د خپلو ځانو په اصلاح کې
شک او تر ديد وار ونو د نو د روڅه
دسمون او اصلاح هيله د زلو د ل بې
ګټې ده ، به دغه لار کښې بري
زموږ به همت پورې تړلې دي .
ښائي چې ځينې مشکلات او خنډونه
موجود وي خو د همکارۍ او خير
غوښتنې د روحيې په د زلو د لو سره
کيدلای شي چې په ټولو لويو
باندې غالب شو او د نيکمرغۍ
پرخوالاره پرانيزو .

لوی جهاد هغه دی چې سړی
د خپل نفس سره کوي ترڅو چې
د لوی خدای له نافرمانۍ څخه
بچ شي .

(پای)

# دژوندانه‌لار

له‌دی کبله چه انسان یو اجتماعی مخلوق، اومجبور دی چه‌دمادی ژوندپر غولی، د داجتماعی اوضروری چارو دپر مخ تگ دپاره له‌دوستانو او ملگرو سره تماس پیدا او آخر مکلف دی چی د کورنی ژوند په تلاش اوموندلو کښی هم لاس او پښی ووهی لکه چی دانگلستان یو نامی لیکوال (سیسرون) لیکی:

(څوك چی په دی نړۍ کی ځان دنورو خلگو له دوستی او ملگرتیا څخه بی نیازه بولی، داسی کسان دی چی لمرته وائی غروب وکړه او بیا دغره پر څوکه مه ښکاریږه، ځکه چه ستا تاریکی اورښتائی پر موږ یو شی ده) همداسی یو بل لیکوال دژوند دخوښی په باره کښی وائی چی:

(ډیرښه گړی هغه دی چی دکوردخونی په منځ کښی دخپلو نژدې کسانو سره ناست، او دصمیمیت په فضا کښی صحبت کؤ له همدی امله که چیری اوس موږ وخپل اجتماعی او کورنی اوسنی جنجالی ژوندته متوجه، او غور پکښی وکړو ښائی چی په سرسری نظر به تر تیر، خپلو عیبو او نواقصاتو ته به هیڅ گوته ونه نیسو او که دموضوع و حقیقت ته په ځیر وگتل سی، نو دا به راته ښکاره او وبه وایو رشتیا همداده چی زموږ اوسنی کورنی ژوند دزیاتو کورنیو بدبختیو شخړو او خواشینو څخه ډك، او یوازنی عامل ئی فقط زموږ اخلاقی ضعف او فکری فقر دی. دمثال په توگه که موږ په خپل اوسنی ژوند کی له خپل یو دوست سره مخامخ، او د صحبت په ترڅ کی پوښتنه وکړو آیا غواړی چی دژوند روښانه ډیوه مو دزمانی دخواشینی او پریشانیو په غبار آلوده، او د کورنی غلیم لاس درباندی بروی؟ ښایی چی هغه دوست به مولومړی متحیر او که دسمی وراشی خاوندؤ نوراته وبه وائی چی کورنی غلیم یعنی څه؟ که چیرته موږ او تاسی دخپل محیط واوسنی ژوندانه طرز ته په عمومی نظر، او د کورنی ژوند حرکاتو او سکناتو ته په خصوصی توگه وگورو، نو دا به راته څرگنده سی رشتیا همداده چی نن زموږ زیاتره دوستان او ملگری ددوستی له شیرینی او دصمیمیت له نعمت څخه محروم او بلکه عجبه لاهم داده چه دنژدی دوستی او رفاقت په عنوان چو کاټ کی په لویو لویو دښمنیو اخته او حتی ناوړی نتیجی ئی هم ښکاره شوی دی. دمثال په توگه زیاتره وینو چی په اکثرو قومو کورو او بازارو کی نژدی دوستان د ورځنی ژوند په جریان کی په ناڅه، ناڅه شیانو او خبرو باندی ترله وتلی، ددښمنی او عداوت اوریی بل او سره ډك توپك وی.

اوس نو که چیری موږ ددغه مرموز رنځ او ساری دښمنی و مبداء ته نظر واچوو، نو بی له دی چی دیو کوچنی خبری څخه ئی سر چشمه اخیستی وی بل علت یی نه ښکاری، او ددغه علت موجبه همداده چی لږ ؤ ډیر په عمومی صورت دتعلیم او تربیی له مزایاؤ څخه محرومیت، او هم دژوند کولو په صحیح مفهوم او دمعاشرت په آدابو نه یو آگاه شوی.

نو څرنگه چی زموږ موجوده ژوند یو موقتی شکل لری یعنی یوه ثانیه ئی بیا په ډیر څه لاس ته نه راځی. نو ښایی چی د خپل دغه موجوده ژوند دیوی لحظی خوښی د کلو کلو د پریشانی او خوابدی پر ژوند باندی ورنه کړو، او ددی د پاره چی زموږ گران وطنوال د دغه کورنی غلیم له منگلو څخه چی په کلونو کلونو ئی زموږ داجتماعی او کورنی ژوند هډ او ماغزه رامسموم او خطرناکه کړی دی دهغه له شا او خواتاوانو څخه خبر روحاً آرام، او خپل څو ورځنی ژوند په خوښی، دوستانه او دصمیمیت په فضا کښی تیر کړو.

# دلوې گلونه

دټاګور له آثارو څخه:

## دپسرلی نغمه

سورگل: دسهار ښکلی نسیمه: ستا په په پیام به څوک وپوهیږی؟ سهار وختی دی چی بیادی ور راوټکاوه؟! ...

دسهار نسیم: ښکلی گله؟ ته که زما په خبره پوهیږی که نه، خوزه پوهیږم چی ته دچا دوصال په انتظار کی ئی؟ وگوره سپیدی چاودلی دی.

زما گله! زه راغلم چی تا له خو به ویښ کړم!.

دچڼچڼی ږغ شو: څوک غواړی راته ووایه، په دې لوی سهار می څله ځالی زنگوې؟!.

دسهار نسیم: گرانی چڼچڼی! ته که را پوهیږی که نه؛ زه خو در پوهیږم چی تا زړه بایللی دی.

وگوره سهار دی، ما دلوی فضا پیغام درته راوړی دی!

واله په نڅاشوه ویې ویل: په ژبه دی نه پوهیږم دا دومره ناآرامی دڅه دپارده؟

دسهار نسیم: شنې ولې! ته که پوهیږی که نه! خوما ته هغه مقصد څرگند دی چی ته پسی لالهانده یې! ما دهغه لوی سیندمستا نه نڅا ترتا پوری راورسوله! او هغه نڅا می ستا به څپوزده کړه!.

بیدیا وویل: خبره نه یم چی هر سهار می په خپلو قدمو نازوی؟.

## ښکلې گله!

گله! ته چی زیبایی ددی چمن یی
خار وخس ؤ ته په څه په خندیدن یی؟
دخپل ځان په قدرولی نه پوهیږی؟
په دې باغ کی خو یو ته نازکبدن یی
دبلبلو ږغ به تل درباندی نه وی!
ښکلې گله! په وفا کی مبرهن یې
په خپل بوی دبلبلانو خاطر خوښ کړه!
یو څو ورځی چی تازه په دا گلشن یې

(خوشحال)

انگلیسی ادب:

## زړه او ژبه

پاسته او له شفقته ډک زړونه دهغه بڼ په شان دی چی له گلونو څخه ډک وی.

افکار او آراء ددې بڼ سړکونه، او خوږې خبری یې شکوفې او گلونه دی.

ښه کارونه ددې بڼ پخې او خوږی میوې دی.

ښه ویناوی هرچیرته چی وی هغه ځای دلمر په شان روښانه کوی خوږه خندا ددې لمر پلو شی دی چی له خوشحالی او مسرت سره گډی وی.

## عرق

دا پرمخ دی کلبدنه عرق ځاځی
که شبنم دی چه دگل پرورق ځاځی
زرغرنه کاندی گلونه لون لون
دا بان چی دزمین پرطبق ځاځی

(حاجی جمعه گل)

## څلوریځه

یوې ورځی سهار ووی په خندا کی
دا قانون مدام جاری دی په دنیا کی
چی ضعیف دزور ورخوا کی وره کیږی
لکه ورکه چی سپوږمی سی دلمر خوا کی

(الفت)

## ساقی ته گوره

باران اوریږی څڅوا کی ځاځی
نسیم راوالووت بلبل پری ناځی
اسباب دعیش واړه موجود دی
ساقی وته گوره چی دی راپاځی

(عبدالقادر خټک)

(۱۵ مخ)

# دشونډومی

څو بېخوده دسروشونډو په می نه شم
په نظر به دسرو ستر ګو سړی نه شم

داشنا دمینی هسی میخانه ده
چی دیدن لره ئې ورسم تری تلی نه شم

چیری نه چی له نظره شی دلبره
له دهشته دی ومخ ته کتلی نه شم

په دربارد معشوقو کی نه قبلیږی
څو له خپلو آشنایانو پردی نه شم

په کومی دزنخدان کی چی څوک پریوزی
وایی داچی ختی نه شم ختی نه شم

ته می هسی دروغجن په مینه بولی
که سپندغوندی ترتانه لوګی نه شم

که دی نیت وی دیاری ترما به راشې
زه «حسین» په ځکندن یم در تلی نه شم

☆☆☆

## بې تا خوند نه کوی

هو! دسهارنری وږمه چی ورو، ورود مرغانو ناري ورسره راپورته سی ښه خوند کوی ...

ښکلی لمر چی لومړی وار په خپلو ښکلو وړانګو، مځکی، ونو، بوټو، اوګلانو ته رنګ ورکړی ښه خوند کوی ...

ځلانده پرخه چی ورو ورو پرپاڼو ویلیږی ښه ښکاری ...

معطره مځکه ترلنډو بارانو وروسته ښه ایسی ...

دمازیګر راتګ، وروسته بیا شپه، دشپې چپه چپایی، او هغه کوچنی مرغان چی په چڼهار پیل وکړی او سپینه سپوږمۍ له ستورو سره، ښه ننداره لری ...

خو آه! نه دسهارنری وږمه، نه دلمر دراختو ښایست او منظره، نه دګلو پرپاڼو د پرخی ویلیدل، نه دمځکی او ګلانو عطر ....
نه دمازیګر پاکه فضا او نه دشپی چپه چپایی

نه دسپوږمۍ ښکلی وړانګی، او نه دستورو ځلېدنګ ....

داټول هیڅ، او بی تا خوند نه کوی !

(۱٦مخ)

## دمرغانو نغمې

په رشتیا چی موږ ښه ژوند لرو، رېزونه کوو الوزو، له یوه ښاخه بل ته ځو .

زموږ ښه آوازونه په ټول ځنګله کښی منعکس، او انعکاس ئې دهرچا غوږونو ته خوښی ورکوی، موږ تکړه او له غمه ازادیو.

هغه څه چی موخوښ وی هغه مومو، هرچیز ته چی وزرونه وغوړ ؤ تلای شو - هرځای زموږ دخوړو دسترخوان هواردی .

کله چی زموږ ورځنی کارپای ته ورسیږی هغه وخت بیا په ونو کښی کښېنو، شپه په ډېره آرامی او خوښی سبا کوو، ددغی شپی خواږه خوبونه موږ ته غنیمت دی .

کله چی سهارسی - د لمر واړنګې موږ له خوبه ویښوی، دغه وخت موږ خپل وزرونه خپروو، په دنیا کی آزاده الوتنه کوو او خپلی خوږې نغمی شروع کوو .

دادی دآزادژوند لذتونه .

## دښځی وفا

دبغداد په یوه ادیره کښی یوه ښځه په قبر ناسته وه او پکه به ورته واهه .

چا ورته پوښتنه وکړه چی :

داولی ؟

دې ورته وویل :

دازما دمیړه قبر دی او ما ورسره وعده کړی وه چی ترڅو ستا دقبر خاوری وچی نه شی ترهغو به بل میړه ونه کړم

(له عربی منابعو څخه)

لیکونکی قمره «اڅکزی»:

# جمیله

## دالجزایر دخپلواکۍ قهرمانه

**جمیله بوپاشا دالجزایر دخپلواکۍ لویه مبارزه او قهرمانه وایي: «تر هغو چې په نړۍ کې بې وزلي او د استعمار تریوغ لاندې وګړي موجود وي او به به زما په ستونې کې تیغ وي»**

جمیله بوپاشا د الجزایر د آزادۍ قهرمانه په ۱۹ کال کښې په الجزائر کې زیږیدلې ده د دې د موالي دوره د مور او پلار تر څنګ چه مغوي هم بزګران تیره شوي ده او په ښوونځي کې چه وروسته ئې وویل ...ړۍ ټکي چه دې زده کړاراده، مبارزه او انقلاب ؤ .

د دې باشهامته پیغلې عمر ۲۲ کالو ته نه ورسیدې چه الجزایر د انقلاب قهرمانه وګڼله شوه .

...ی د مبارزې د قصو څخه یوه داده چه د پسرلي په شپو ورځو ...د یوه روښانه سهار په یوه مسلمان اوسیدونکي قصبه ...د فرانسویانو د پلیسو له خوا د خپل وطن او خاورې د ...ادۍ او ملي ناموس د ساتنې په جرم ونیول شوه او ...ان ته یې وسپارل .

هو جمیلې د یوې غیرتي پیغلې په صفت د خپلې مینې او ...ناموس د ساتنې له پاره چه د هر انسان وظیفه ده څو د ...خاورې هره لویشت په وینه وساتي زیار ایستې دي .

خو دا د دې جرم په کولو د زندان په دوره کې د دومره ...ار او شکنجې سره مخامخ شوه چه بالاخره مرګ ته ئې نژدې کړه خو د دې باشهامته نجلۍ پر استقامت او میړانه یې کوم اثر ونه کړ بلکه د دې د غیرت ابدي شهرت او تاریخي افتخارات د قول الجزایر د آزادیخوا ملت وینه په غور څنګ راوستل او د استقلال تندي یې شدت وکړ .

دغه وخت ؤ چه د جمیلې د اعدام خبر هم خپور شو چه دا آواز بیا یوا ټومي بږغ ؤ چه جهان ته ئې تکان ورکړ خو دې د خپل اعدام د خبر په اوریدو بیا هم په خور ارشادت او بې ساري مردانګۍ د فرانسویانو قضاوتو ته داسې وویل: چه تاسې زما په وژلو خپل د آزادۍ غوښتلو عنعنات ورک خپل افتخارات ننګین او بالاخره راتلونکي مو په خطر کې اچوي .

دې په یوه بله ټولنه کې داسې وویل: «تر څو چه په نړۍ کې بې وزلي او د استعمار تریوغ لاندې وګړي موجود وي او به به زما په ستونې کې تیغ وي» .

دا چه هر ډول فشار او شکنجې د دې عزم ته سر ټیټ کړ نو د نړۍ د ملتو له خوا په ټینګه پشتیبانۍ سره د اعدام او بالاخره د زندان څخه خلاصه او د هیواد د خپلواکۍ تنده یې ماته شوه .

(پاتې مخ)

پرسیاسی پیښو تبصره:

# عربی مثلث اتحاد

د عبدالمنان امین په قلم:

څو ورځی د مخه د عربی متحد جمهوریت لیبیا او سوریی مشرانو د لیبیا په بنغازی ښار کی د یوه فدراسیون د جوړیدو سره موافقه وکړه د دی عربی اتحادیی د هغو دری گونو هیوادو گډون کوونکی چی په فدراسیون کښی دی له هر نقطه نظره د اهمیت وړ دی.

عربی فدراسیون چی په حقیقت کښی د هغو کوښښونو محصول دی چی د عربی متحد جمهوریت مشرانو د دیارلس کلو راهیسی کړی دی.

د عربی مثلث اتحاد لمړنی اساس تیر کال د نوامبر په شلمه نیټه په قاهره کښی کښیښودل شو او د فدراسیون غړو هیوادونو موافقه وکړه چی د اسرائیلو په مقابل کښی یو مشترک سیاست غوره کړی هغه وخت سوډان هم په فدراسیون کښی خپل تړون اعلام کړی ؤ.

د دی فدراسیون په جوړیدو سره له یووی خوا هغه لیری والی چی د جزئی اختلافو پر اساس د عربو ترمینځ پیدا کیده له مینځه ځی او له بلی خوا عربی هیوادونه هغه پخوانی ته مرام رسوی چی د اسرائیلو پر ضد د دی فدراسیون د جوړیدو په باب ئی لری.

که څه هم د دی فدراسیون د جوړیدو مفکوره پخوا د متحد عربی جمهوریت فقید جمهور رئیس جمال عبدالناصر د زعامت په وخت کی پیدا شوه خو تر هغه وروسته د هغه سلف د متحد عربی جمهوریت مشر انور السادات لخوا د امفکوره تقویه شوه او د انور السادات، حافظ الاسد او معمر القذافی د دوامدارو خبرو په نتیجه کښی فدراسیون جوړ شو.

د دی فدراسیون د جوړیدو د خبر د عربی هیوادو او د اسلامی نړۍ د بیلو بیلو حکومتو لخوا د عربو د تقویت او یووالی د پاره هر کلی وشو. د فدراسیون یو مهم خصوصیت دا دی چی یو جمهور رئیس او یو بیرغ به لری مگر د دری هیوادونه به د ملگرو ملتو په موسسه کښی خپلی څوکی وساتی د سوډان د دولت رئیس جعفر النمیری چی د متحد عربی جمهوریت سوریی او لیبیا د مشرانو د خبرو او غونډو په لمړی مرحلو کی گډون درلود او وروسته له هغه له قاهری څخه د شوروی اتحاد خوا ته لاړ د فدراسیون د جوړیدو وروسته وویل چی باید سوډان لومړی د خپل اساسی قانون د جوړیدو او ملی موسساتو د تاسیسد لو کارپای ته ورسوی او پس له هغه په عربی اتحادیه کښی د گډون د پاره تصمیم ونیسی.

د دری گونو هیوادو د فدراسیون د راتلونکی جمهور رئیس په باب به یو ریفرندم وشی.

د دی فدراسیون ټول شامل ملتونه یو ملیون مربع میله رقبه لری یو ډول سرود او یوه ملی اسامبله او یو فدرالی قضایی دیوان لری د دغو دری واړو جمهوریتونو هیڅ یو سیاسی حزب به د احق ونلری چی د بل هیواد په خاوره کښی فعالیت وکړی، د متحد عربی جمهوریت سوریی، لیبیا گډ [illegible] سیون

د مصر او سوریی د ۱۹۵۸ کال د اتحاد څخه وروسته د عربو په نړۍ کی لومړنی قانونی اتحاد گڼل کیږی د دی اتحادیی جوړیده له څو جهته د اهمیت وړ دی او په وضاحت سره ښکاری چی د عربی نړۍ له گټو څخه دفاع کوی.

د اتحادیه عربی ملتو ته اجازه ورکوی چی خپلو ټولو نظامی حرکتو ته توحید او انسجام ورکړی او د یووالی ترسیوری لاندی به ټول د واقعاتو پر ضد مقابله وکړی.

د اروښانه حقیقت څرگندوی چی د دی اتحادیی د جوړیدو سره سم د عربی فدراسیون په مقابل کښی د دښمن لخوا کوم اقدام نشی کیدلای.

اوس چی اسرائیل د منځنی ختیځ د بحرانو د لیری کولو د پاره د یو لړ مشکلاتو سره مخامخ شوی دی د دی اتحادیی جوړیده اسرائیلو ته اخطار ورکوی چی د فدراسیون د شاملو هیوادو یووالی او ټول قدرت د هغه په مقابل کښی ولاړ دی

د بنغازی د خبرو په پای کښی داسی ویل شوی دی چی د دی فدراسیون یو مهم هدف دا دی چی د دری گونو هیوادو قواوی د یو او بل خاوری ته تلای شی

اوس د عربی هیوادو قواوی کولای شی چی د سوریی خاوری ته ورشی او په دی صورت کښی د عربو د قواو چی په عصری وسلو سره

پاته په ۲۵ مخ کی.

قصره «انګلزی»:

# د میرمنو د نن ورځ

## اجتماعي او تربیوي مسئولیتونه

قوله هغه هیوادونه چې نن
ترقي پړاوته رسیدلي او یا په دې
ځای دي چې د خپلو وګړو د فعالیتو
برکت چې لوی او اساسي عامل
دهغې قوتني د خلکو فردي او
اجتماعي زیاړ او د پیچو او نارینو ګډه
ګډاوي او د فکر او عمل یووالی
لوړ شي ورته لازمه ده چې
دغه لارې روان شي .

نن بر ون چې د نړۍ هیوادو د
ټولو اجتماعي زیاتو فعالیتو
پاره د پیچو او نارینو د حقوقو
امتیازاتو د پاره کوښښونه
شي دي او میرمنو په قوتنه کې
اجتماعي، تربیوي او فامیلي
دندې برمخ بیولي دي او یا په
داسې چارو کې نن لاس لري
دې مسئولیت تر برون زیات
دي او هر وخت څخه حساس شوي دي.
دهر راز ښوونې او روزنې
څنګ د دې مسئولیت د زمانې
عصر د ایجابا تو او غوښتنې سره
د ماشوم و روحي او جسمي
ځای ته پاملرنه کول لسوی
مسئولیت دي چې د راتلونکي
ژوند پړاوته د رسیدو او د ژوند
د ساحې د پراختیا د پاره دوی
کوښښ کوي .

مینځدي دي چې باید په خپل
خاصه پاملرنه د نن کوچنیانو د
تربیې د سې د سپاد ځوانانو او
د قوتنې د معمارانو په صفت
پرې نږدي چې د کور او کهول
دلاري ورانه سي او یا به کورنۍ
ژوند کې د اخلاقي روزنې او اساسي
پالنې له نعمته څخه بې برخې شي .
که پا رشتیا سره سوچ وکړو
او ښه ځیر شو تر زیاتې اندازې
داوسنې او راتلونکې قوتنې
برمختګونه او پراختیاوې د مندو
او پلرونو په لاس کې دي او څرنګه
چې ماشوم خپل دوړ کتوب دوره
چې د فکر او جسم د شروع د تحول
او باطني شعور د ژوندي کولو
پړاو ته کې لومړي دوره ده
زیاتره د مور او کور به غیږ او
پوهو میرمنو په طرز تفکر، عملي
اجراآتو او ورځني کړنې د
ماشوم ماتو په شعور او باطني
دستګاه باندې ستره اغیزه
کوي .
میرمنې په ژوند کې پر ته
له ځینو موارد و د د نارینو سره
برابر حقوق لري او په مدني ژوند
کې لازمه ده چې له رغو حقوقو څخه پوره
ګټه واخلي او د ورځني اجتماعي
مشکلاتو او پرابلمونو د حل کولو په برخه
کې د نارینو سره په یوه لاس کار وکړي.
یوازې د کورسمون او د ماشوم روزنه
هم د دوی وظیفه نده بلکه په قولو هغو
چارو کې چې انساني قدرت کار کوي
او د وګړو او هیواد د پاره د ژوند
د تیاړولو لپاره زیاړ باسي د میرمنو
وظیفه ده چې د نارینو په مرسته او
همکارۍ د ژوند قوله چارې مخ ته
بوځي او د علم او پوهې له دنیا سره اشنا
شي د خپلو حقوقو د غوښتنې او استفادې
ادعا وکړي او په هره وسیله چې وي
د ځان او نور د ژوند د ښه کیدو په منظور
مبارزه وکړي او د همت ملاوتړي. هغوی
چې د افکر کوي چې تر کور د باندې
کار نه کوي او یا ضرورت ورته نه لري
د لوی اشتباه سره مخامخ دي ځکه کار
انسان یوازې د ځان لپاره نه کوي د
نور و ژوند د لته ضروري دي ښایي نور
به یې د کار وجود ته اړتیا ولري.
منور و میرمنو د ځان، قام او ملتونو
د تکامل او تدریجي سیر په تاریخ کې
ډیر ستر کارونه سرته رسولي دي او
سیاست په صحنه کې د ستري مبارزې
په مرسته لوی واکمنې ورته لاس سویدي.
د ښاغلو نارینو وظیفه د ده چې
د بشري حقوقو د احترام په هکله هیڅ
ډول فرق د وګړو ترمنځ روا نه ولي او په
هره وسیله زیاړ و باسي او خپل ورو سته
پاته کیده د ګډې مرستې او کار له لارې
بشپړ کاندي .

د محمد عظیم هوشمند څیړنه او لیکنه:

# ولې بیریږو؟
# د ارځرنګه له ځانه لیرو کړو؟
## د وحشتناکو او بیړونکو بیروځخه څرنګه ځان وژغورو؟

د «فوبیا» اصلي معنی ډار یا ویره ده، کله، کله ډار، پرمونږ ټولو باندې غلبه کوي مثلاً هغه کار کوو چې موږ ئې مخکښې د پای ته رسولو اقدام کړی وي او غواړو چې پای ته ئې ورسوو، د نومونږ کار له نتیجې څخه بیره پرمونږ غالبیږي. او یا هغه وخت چې ځینې کسان په سفر ځي، یوه بې اساسه ویره ورته پیدا شي. خو داسې ډیرې چې د یوې خاصې پیښې له کبله منځ ته راځي فوبیا نه نومیږي.

(فوبیا) داسې یو روحي، زجر، اورنځ دی چې په دایمي توګه په ډیرو وحشتناکو او ویرونکو ډول د انسان په وجود کښې راپاڅیږي

او د اویره نسبت نارینه ؤ ته په ښځو کښې زیاته موثره او اغیزه ناکه وي.

د (فوبیا) ناروغي ډیره متداوله ده، مثلاً د (غفې)

او نورو وحشراتو څخه بې دلیله ویره په داسې حال کښې چې ښائي هغه هیڅ تاوان چاته ونه رسوي.

داسې احساس په نړۍ کښې په زرها ؤ کسان لري، یوازې تو بیرې یې په دې کښې دي چې ځینې دمار او نو،

نو د بیاد الوتونکو بله ډله بیا له موږ کانو څخه بیریږي د دغې ډلې ځینې کسان بیا له لوړو برجو او هسکو غرو څخه ډاریږي، او داسې اقګل کوي چې هر ومرو به له پورته اولوړو څخه لاندې راولویږي.

د ډول بیرې ترهغه پورې چې دور ځنې کارو د پای ته رسولو مانع ونه ګرځي، دومره د تشویش وړ نه دي ځکه چې سړی د لوړو څخه له تګ نه د اجتناب او لیرې والي او وحشراتو ته د نه کتلو په واسطه کولای شي چې د اندیښنه له ځانه لیرې کړي.

ځینې داسې ویرې ستې چې د انسان د ژوند نه د فلجیدو سبب ګرځي د مثال په توګه یو ډول خلک د سرطان په ناروغي د اخته کیدو ویرې د اسې مشوش کړي دي؛ چې هیڅ نشي کولای خو د دغه ناروغي فکر له ځانه ایستنه کړي د وي تل به دې فکر کښې وي، که څه هم معالج ډاکټرو ته خو خو ځله ډاډ ورکړي خو بیا هم د ده سره د اتشویش مل وي.

تر څو چې نومونږ روحي ډاکټرته وړاندې نه شي هیڅکله له دې تشویش څخه خلاصیدای نشي.

ډیره مشهوره «فوبیا» «کلوستروفوبیا» او «اګورافوبیا» ده هغه څوک چې د «کلوستروفوبیا» په ناروغي اخته دي، داسې احساس کوي چې په تنګو او تاریکو ځایو کښې ولاړ دي او د فرار او خلاصون هیڅ لار نه لري. د ناروغي دومره د تشویش وړ نه ده، ځکه کیدای شي، چې د دغو ځایو څخه د لیرې والي په واسطه د تشویش د سړي څخه لیرې شي.

خو د «اګورا فوبیا» ناروغان له هغو ځایو څخه چې هلته ګڼ شمیر خلک غونډ وي، یا هغه لارې چې هلته تګ او راتګ پرې زیات وي، بیریږي او حتی په دې هڅه کښې وي چې د کور څخه بیخي د باندې ولاړ نه شي په لندن کښې تقریباً سل زره کسان بدې ناروغي اخته دي، د ډله خلک کله چې د کور څخه د باندې ځي او هغو ځایو ته چې ګڼ شمیر خلک غونډ وي، ګام کښېږدي د زړه ضربان ئې مخ په زیاتیدو شي د خولې ناړې ئې وچیږي پښې ئې سستې کوي او د احالت و روورو شدت مومي او داسې کسان په یوه بې اساسه وحشت او تشویش سره اخته وي.

### د خجلت وشرم احساس

هغه کسان چې د «اګورا فوبیا» په ناروغي اخته دي په ګڼو ځایو کښې کله چې د ناروغي حمله ورباندې

پاته په ۳۲ مخ کې

د ایوبزی ژباړه:

له خارجی منابعو څخه

# په فضائی عصر کښی د کرنی انکشافات

زموږ په عصر کښی د علمی اکتشافاتو او سوداگری ترمنځ فاصله کمیږی، د مثال په توگه ویلای شو سل کاله تیر شول چه عکاسی تجارتی شکل غوره کړ. بازار ته د تلیفون په راتلو کښی پنځوس کاله وخت ونیوی خو د نه کار د تلویزیون د پاره ۱۲ کاله او د ترانزیستور د پاره پنځه کاله په بر کښی ونیوله.

دغه حالت په کرنه او باغداری کښی هم په دغه شان دی، تر څو پوری چه کرنه د ملی او بین المللی هوساینی مهم عامل وی موږ داسی نتیجی ته رسیږو چه ثابتوی کروندگر نور نه شی کولای چه د یو ډول محصولاتو کرنه په ځان پوری مختصه کړی مثلا صنایعو په ۱۹۶۹ کال کی په سلو کی ۵۵ بازار درلود، حال دا چی د پومبی بازار په سلو کی ۴۴ ؤ، اوس بیا نباتی کوچی د درو څخه دوی برخی بازار نیولی دی، او صابون باب چی د حیوانی او نباتی غوړو څخه لاس ته راتله اوس د کیمیاوی موادو څخه جوړیږی، حتی مصنوعی غوښی هم بازار ته راغلی دی په امریکا کی ۱۵ شرکتونه جوړ شوی دی چی د اصلی خوراکی شیانو په څیر ترکیبی مواد منځ ته راولی او د تکنالوژی متخصصین معتقد دی چی دغه د کار لومړی سر دی.

د نفتی شیانو څخه د پروتین لرونکو موادو د جوړولو د نفتو د څینو شرکتونو په واسطه زیاتی څیړنی شوی دی چی د څارویو په تیره بیا د انسانانو د مصرف د پاره خوراکی شیان تهیه کړی، دغه شیان د غنی ویټامینو او د امینه اسید دارو څخه او په سلو کی پنځوس پروتین لری او اقتصادی جنبه ئی اوس تر څیړنی لاندی ده.

دغه تحولات ثابتوی چی کروندگر باید په راتلونکی وخت کی د کرنی په معمولی طریقو سربیره خاص مهارت په کار واچوی څو چه د نوی تکنالوجی د لاری پرمخ ولاړ شی، د هغو تغیراتو په باب پیش بینی چه د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ کلونو تر منځ به په کرنه کی وشی او د هغه شی سره ئی مقایسه چه د تکنالوجی له پلوه به د کرنی په مصنوعی فروعاتو کښی منځ ته راشی مشکله او عملی نه ده.

که زموږ خوښه وی او که نه، امکان لری چه دغه د ارزانه خوړو تهیه کول به دوام وکړی

اوس یو عادی امریکائی یو اځی په سلو کښی شپاړس اعشاریه اته د خپلو خالصو عایداتو څخه د غذا له پاره لگوی، او په دی کی شک نه شته چه تولید کونکی دغه اندازه لوړه کړی، په آینده کښی به زیاتره خوراکی شیان د کنسرو تولید کوونکو ته وقف شی، د کرنی په برخه کښی به په شلو کلونو کښی زیاته پانگه په کار ولویږی متخصصین به ډیری څیړنی وکړی، او کرنه به په خاصه توگه سره په تخصصی طریقه لس ځله پرمخ ولاړه شی او د دغه کار د پاره به د لویو ماشینی آلاتو، ښه تخم او د کیمیاوی کودو د کرنی د مودو څخه استفاده وشی، په دغه هکله بری په دی ډول تر لاسه کیږی.

## د ماشین آلاتو قدرت:

د تراکترونو د آس د قدرت زیاتوالی به دوام وکړی د ۱۹۵۰ کال څخه تر اوسه پوری په سلو کښی ۲۲۵ زیات شوی او انتظار ایستل کیږی چه تر ۱۹۸۰ کال پوری به په سلو کښی نور پنځه او یا زیاتوالی راشی.

د تراکتور قدرت د کرنی په عملیاتو کښی د چټکتیا او پرمختگ سبب دی او ښایی چه په یوه ساعت کی ۱۳ کیلومتر وته ورسیږی هغو ماشینانو ته به زیاته توجه وشی چه د داخلی سون په موادو سره به چلیږی، معمولی موټرونه او ډیزلونه به د انرژی په نورو منابعو په کار ولویږی، دغه تغیرات د لویو تراکتورونو په برخه کښی دی.

★

★

## د تراکتور د لارښوونی سیستم:

ډیره موده به تیره نه شی چی الکترونیکی سیستم به د تراکتورونو لارښوونه وکړی او دهغو سرعت به کنترول کړی ترڅو چی متصدی یی وکولای شی آلات او اوزار منځ ته راولی.

د ځارنی د کنترول په هکله به د اتومات سیستم څخه کار واخستل شی او دغه ځارنه به د میخانیکی عواملو د وظیفو د کنترول له کبله وی، امکان لری چی تر ۱۹۸۰ کال پوری به اتومات تراکتور چی چلوونکی ونه لری منځ ته راشی او یوه ورځ به په دغه هکله تلویزیون هم په کار ولویږی.

## د کروندی اوزاری:

په لسو راتلونکو کلونو کی به د کروندی اوزار د مځکی کار، او دهغه مربوط د ماشین آلاتو قدرت لکه د لوکولو او کوټلو کمپریسورونه منځ ته راشی.

د محصولاتو اخستل، د کمپاینونو ظرفیت او قدرت به تر ۱۹۸۰ کلونو پوری یو په دری شی، چلوونکی به په هغه وخت کی وکولای شی په کرونده کی د کمپاین دستگاه ډیره چټکه کړی.

تر ۱۹۸۰ کال پوری به میخانیکی وسایل د میوو او سابه ؤ د تولیداتو زیاتولو په کار کی برخه واخلی، د دغه ډول محصولاتو د پاره تر اوسه پوری دغسی وسایل په لاس کی نه شته، خو تر هغه وخت پوری به ارزانه میخانیکی اوزار بازار ته راشی.

## د کروندو پوله بندی:

د کرنی په لار کی پرمختگ به په پای کی د کروندو پوله بندی د منځه یوسی او دغه پرمختگ به د کرنی د تجهیزاتو په نهضت پای ته ورسیږی امکان لری چی دغسی یو حالت به منځ ته راشی چی میخانیک یواځی د یوی کولو تخم شیندلو، کود په کار اچولو او د مځکی د محصول ټولولو په کار کی زیات په کار ولویږی.

## امنیت او هوساینه:

انتظار ایستل کیږی چی تر ۱۹۸۰ کال پوری به د امنیت او هوساینی زیات وسایل حتی د تهویی وسایل د تراکتورونو د چلوونکو په ځای کی تعبیه شی، د فابریکی خاوندان او کروندگر به د زیاتو امنی تجهیزاتو څخه زیاته خبرتیا حاصله کړی.

زموږ دوران، د تغیر او تحول دوران دی او دغه تحولات د ژوند د نعمتونو څخه د گټی اخستلو، او د هوساینی د وسایلو د په لاس راوړلو په لار کی په کار لویږی.

د ۲۰ مخ پاته

## ولی بیر یږو؟.....

راوړی شرمیږی چی د چا څخه د مرستی غوښتنه وکړی ښکاره ده که چیری دوی کور ته ورسیږی نو هر ومرو بیر ته عادی حالت ته راگرځی.

نو دوی له ځانه سره د اعزم کوی چه د کوره ونه وځی همدا رنگه که چیری د داډول کسانو څخه د هغو د ناروغی په هکله کومه پوښتنه وشی، نو شرمیږی او د ځواب ورکولو څخه ډډه کوی، حتی معالج ډاکتر ته هم خپله ناروغی نه بیانوی.

په دی ناروغی باندی یوازی بیسواده خلک نه اخته کیږی بلکه ځینی لوی لوی پوهان هم دا ناروغی لری.

راځی چه اوس د دغی ناروغی اصلی علت وڅیړو او د خلاصون لاره ئی ومومو.

د بده مرغه تر اوسه پوری د روحیاتو پوهانو د دغی اصلی او اساسی علت نه دی څرگند کړی.

خو ویلای شو چه دا رنگه ناروغان کله چه بازار او یا داسی نور وگڼو ځایو ته ولاړ شی، داسی سوچ کوی چی ټوله خلک د دوی هر حرکت او کړنه، او عادی رفتار تر دقیق کنترول لاندی نیسی، او باید دوی داسی ناوړه حرکت ونه کړی، چه نور هغه ته متوجه شی، او گوته ورته ونیسی، او د هغو د کرکی باعث وگرځی.

د داسی ناروغانو سره د دوی د روغتیا له کبله باید داسی مرسته وشی چه تل دوی ته داسی تلقین وکړی چه دا تصورات ټوله بی اساسه اندیښنی دی، او په حقیقت کښی دوی جوړ او روغ دی دوی کولای شی چه په گڼو ځایو کښی تگ او راتگ وکړی او لازمه او ضروری ده چه په دی برخه کښی د روح پیژندنی ډاکټر ته مراجعه وشی.

معالج ډاکټر د روحیاتو د علم په اساس د (اگورافوبیا) ناروغی داسی معالجه کوی چی ناروغ د لږ وخت له پاره د یو بل ملگری سره گڼو ځایو ته استوی او کله چه هغه لږ شانتی ښه شو، نو بیا هغه یوازی د باندی لیږی.

همدا رنگه بله لار داده په هغه کور کښی چی په ناروغی اخته کسان شته باید هلته زیات میلمانه تگ او راتگ ولری تجربو دا ثابته کړی ده چی د اوروستی طریقه ډیره مؤثره او گټوره ده.

(پای)

پښتو کونکی تیمور شاه (صالحی):

# په افغانستان کښې د مواصلاتو نقش

د افغانستان هیواد چې (٦٥٠٠٠٠) کیلومتره مربع مساحت لری دوه نیم واړه د المان دفدرالی جمهوریت څخه لوی او تقریباً (١٥) ملیونه نفوس لری، د افغانستان هیواد ټوله په وچه محاط دی یعنی وبحرته هیڅ لارنه لری چې په دې موقعیت سره د اروپا د سویس هیواد ته ورته دی هغه نو افغانستان د طبعی موقعیت له مخې د (آسیا سویس) په نامه یاد یږی افغانستان د شمال ختیځ په ساحه کښې د مرکزی آسیا په لوړه سطح تعلق لری، د دې هیواد ختیځی او مرکزی برخې په لوړو غرو محاط شوې دی چې د هغې ډلې څخه د هندوکش سلسله چې د شمال ختیځ څخه د جنوب لویدیځ خواته اوږده شوې ده د (٧٠٠٠) مترو څخه زیات لوړوالی لری په داسې حال کښې چې د لویدیځ خواته د هغه لوړوالی ورورو کمیږی هغه نو د دې سلسلې د موقعیت په نسبت د افغانستان یوه زیاته برخه د تګ راتګ وړنده.

په افغانستان کښې زیاتره هموارې سطحې په جنوبی او شمالی برخو کښې شته دی. د دې هیواد د رودونه هم د حمل ونقل له حیثه ګټورنه دی هغه د رودونه یوازې په هیڅو وختو او د کال په لومړی سر کښې چې د لویو اوچګو غرو ژاوړی ویلی سی ډیری او به لری او بل وخت چندانی او به نه لری په هیواد کښې یوازې رودچې د کښتی چلولو وړ دی (آکسوس) یا (آمو) دی چې د افغانستان او شوروی اتحاد تر منځ په ډیره فاصله طبعی سرحد جوړوی.

دې رودیوه لویه قرانزیتی لار جوړه کړیده چې د دې لارې په واسطه د اروپا او شوروی اتحاد مال او نه افغانستان ته راوړل کیږی افغانستان له ډیر بخوا څخه د یوې خواد ترکستان او ایران تر منځ تګ لاره او د بلې خوا د هند د قاری معبر تشکیل کړی ؤ د هغو لوړو غرو سلسلې چې د لو یدیځ او جنوب لویدیځ لور ته غزیدلې دی د افغانستان مهمې لارې او معبرونه ئې تشکیل کړیدی.

د افغانستان د خلکو سیاسی انکشاف د مواصلاتی انکشاف د تأثیر څخه نه شی وتلای هو کله چې افغانستان په ١٩١٩ کې خپل سیاسی استقلال لاس ته راووست نو د هغه وخت له پاره د دې هیواد خلک مجبور شول چې د خپلې خپلواکی او د هیواد د آزادی د ساتلو د پاره د خارجی هیواد و د تخنیکی انکشاف او ارتباطاتو څخه ګوښه کیدل غوره کړی کله چه په ١٩٦٣ کال کښې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د ابتکار او ارادې سره سم نوی او مډرن قانون تدوین او تراجرا لاندې ونیول شو نو په هیواد کښې د عصر د مقتضیاتو سره سم د یونوی او دیموکراتیک دولت اساس کښېښودل شو تر څو چه په اجتماعی سیاسی او اقتصادی انکشاف کښې هم آهنګی تضمین شی. زموږ ګران هیواد افغانستان په ١٩٤٦ کال کښې د ملګرو ملتو په غړیتوب کښې شامل او د ټولو هیوادو سره ئې د بی طرفی د سیاست د رعایت وکړ د شوروی اتحاد، امریکا متحده ایالات د المان فدرالی جمهوریت او د نړی نورو هیواد و سره ئې دوستانه روابط ټینګ کړل.

افغانستان د مخ په انکشاف هیواد و په ډله کښې شامل او د خپلو تاریخی، سیاسی او جغرافیایی شرائطو له کبله په ١٩ پیړۍ کې د صنعتی انقلاب نفوذ پکښې وکړ.

لومړی ګام چې د هیواد په دې لار کښې د نورو هیواد و په سویه واخیست د خپلواکی د پلاس راوړلو د وسته یعنی د ١٩١٩ کال څخه وروسته ؤ په افغانستان کښې د اقتصادی اړ تیاوو لیری کول د دوهمې لوئی جګړی څخه وروسته منځ ته راغله. د افغانستان د پنځه کلنو پلانو په چوکاټ کښې چه د (١٩٥٧) کال څخه وروسته د دوستو هیواد و په مرسته تراجرا لاندې ونیول شول.

په لومړی مرحله کښې د اقتصادی زیربناء جوړولو زراعتی او صنعتی پروژو ته جدی توجه وشوه.

افغانستان د خپل سیاسی او جغرافیائی موقف په نظر کې نیولو سره د مواصلاتو په ساختمان کښې لږ څه وروسته په فعالیت شروع وکړه.

په دې هېواد کښې په ټوله (۱۹) پېړۍ کښې د حرفوي اقتصاد تو لېدې شکل په کوچنیو پیمانو کښې په عنعنوي او هم منطقوي صورت فعالیت درلود په دغه وخت کښې د برتانوي هند د اوسپنې لارې د ختیځ سرحدونو او بحري پیمانو ترمنځ بوه رابطه ټینګه شوه. لږ موده وروسته د شوروي اتحاد د اوسپنې لارې افغانستان تر سرحدونو رسیده او په ترتیب سره د هېواد شمالي ایالات د مرکزي آسیا د تجارتي مرکزونو د جمهوریتونو سره یوه مستقیمه رابطه پیدا کړه. د دې کرښو سره سم تجارت او زراعت په هېواد کښې په رونق پیدا کړ. ځکه چې دیوې خوا د هېواد د صادراتي مالونو د پاره نوې مارکیټونه منځ ته راغله او د بلې خوا د اروپائي هېوادونو صنعتي محصولات په زیاته پیمانه لاس ته راغله هغه نقش چې دولت لکه نور منځ په انکشاف هېوادونه د هېواد په انکشاف او اعتلا کښې د اقتصادي سیاست له حیثه لري د اهمیت وړ دی، د خلکو عدم سرمایه ګذاري او د دینا میکو متصدیانو نشته والی د دې سبب کېږي چې دولت په اقتصادي ژوند کښې فعال سهم برخیله غاړه واخلي. د دې اساس په افغانستان کې اساساً د آزاد اقتصادي بازار اصول او د قیمتو میکانیزم رعایت کېږي بخپله زیربنا او اقتصادي انکشاف یو د بله سره نژدې رابطه لري، اقتصادي زیربنا هغه مادي، ساز مانی شخصي او حقوقي تأسیساتو له مجموعې څخه عبارت دی چې ویشل شوي کار د یو د اسې اقتصاد په چوکاټ کښې چې د کار پرویش باندې اتکا ولري او د خلکو د استفادې وړ وګرځي.

اقتصادي زیربنا د مولودو قواؤ استفادې او تر کیب ته انسجام ورکوي تولیدي او د اقتصادي فعالیتو انسجام په ښه توګه تعینوي.

اقتصادي زیربنا لوړ ترین اقتصادي رشد میسره وي مادي زیربنا عبارت ده د ټولو هغو دستګاوو او تجهیزاتو څخه چې د مواصلاتو، مخابراتو او طبیعي منابعو په ساتلو کښې د انرژۍ د تهیې په لارکې خدمت کوي مادي زیربنا د خپل جامع تأثیراتو په خاطر د تولید د قواؤ په ایجاد کښې مخصوصاً د صنعتي کېدو په مختلفو اشکالو کښې یو مهم عامل ګڼل کېږي د مواصلاتو سهم: یوه بنیادي سرمایه ګذاري او مادي زیربنا یو د مربوطه ده او مختلف وظایف که اقتصادي او که غیر اقتصادي وي لکه فرهنګي سیاسي او پلان ګذاري سرته رسوي د دولت وظیفه داده چې هېواد ته انکشاف ورکړي او د خلکو د باره د اسې شرایط منځ ته راولي چې دهغه په استفاده سره په اقتصادي سیاسي، فرهنګي او اداري ساحو کښې فعالیت وکړای سي مواصلات او صنعتي کېدل یو بر بل باندې ډېر تاثیر اچوي او یو د بله سره اړیکې لري لکه چې په برمخ تللي هېواد و کښې مواصلات او اقتصاد ځنګ برځنګ منځ ته ځي ځکه نو په لږ انکشاف هېوادو کښې مواصلات لومړي د اسې شرایط منځ ته راوړي چې تولید او تجارت منځ ته ولاړ سي.

سره د دې چې افغانستان یو منځ په انکشاف هېواد دی خو یوه پېړۍ د منځه عنعنوي کاروانونه منځ بر انحطاط سوه د سویز کانال پرانستل او د روسانو د اوسپنې د ګرېښې اوږد دیده په آسیا کښې د تجارتي کاروانو امتیازات له منځه یووړل د هندد استعمار ګټ موجودیت او د روسانو حاکمیت په ګوډ یدو د آسیا کښې د دې سبب سوچې نومړي دوه هېوادونه په تجارت کښې یو د بله سره دلچسپي ښکاره نه کړي د کرهنې په برخه کښې افغانستان هم کله د مخکې د منځ نور په وچه محاط هېوادونه د واحداتي اقتصاد د لوونکي دي یعنې کوچنۍ او یا لوی زراعتي برخې د بې حاصلو او کم نفوسو جوړو په واسطه یو د بله سره جلا سوي دي طبعاً دغه لیري سیمې صحیح د او منظم مواصلاتو په واسطه یو د بله سره اړیکې پیدا کولای سي دغه مواصلات د هېواد په انکشاف او امکاني تحریک کښې ډېر لوی رول لري او همداغه رنګه دغه مواصلات د اقتصادي رشد سبب ګڼل کېدلای سي د مواصلاتي شبکو تکمیل په عین زمان کښې د سیاحت اساسي شرط هم ګڼل کېږي څرنګه چې نن د ځ جهاني تورېزم د هېواد په اقتصاد کښې نسبتاً مهم عامل ګڼل کېږي له دې جهته د مواصلاتو د خطوط د اصلاح مهمه او د افغانستان پر اسمارو باندې تأثیر اچوي د ښځه ګلن پلان د طرحې او تطبیق سره سم د

دهیواد په اقتصاد کښې نسبتا مهم عامل بلل کیږي له دې جهته دمواصلاتو دخطوطو داصلاح اهمیت دافغانستان مهم او پراسعارو باندې تاثیراچوي دپنځه کلن پلان دطرحې او تطبیق سره سم دافغانستان دولت تصمیم

ونیوي چې یو منظم مواصلاتي سسټم جوړ کړي او په دې ترتیب سره چې انکشافي مواصلاتي لارو ته ضرورت درلود دلومړي پنځه کلن انکشافي پلان له مخې چې په (۱۹۵۶) کال کښې منځ ته راغلی کمه (اسفلټ یعنې قیرشوي) اساسي لار په هیواد کښې نه وه یوا ځې په

ټول هیواد کښې (۳۷۰۰) کیلومتره داستفادې وړ سړکونه چې ددې جملې څخه (۲۵۰) کیلومتره داستفادې لاندې نه نیول کیده موجود وه همدارنګه په دې وخت کې د الوتنو مخصوصي دستګاوي او عصري میدانونه په هیواد کښې نه وه ددولت اساسي هدف دمواصلاتو دانکشاف څخه په لومړي سر کښې داؤ چې د هیواد لویو ښارو او اقتصادي مرکزو ته داسلفټ سوي سړکو په واسطه یو دبله سره ارتباط ورکړي او بر سیره پردې غوښتل ئې چې تجارتي لارو ته دګاونډي هیوادو ترسرحدو پورې پراختیاورکړي چې دهغه په واسطه د هیواد اقتصادي همبستګۍ په جهاني تجارت کښې استقرارومومي د دغه لویو لارو کار چې دلومړي

پنځه کلن انکشاف پلان څخه شروع اوتر (۱۹۷۲) پورې پایښت لري دافغانستان دپاره خاص اهمیت لري ددغو لویو لارو عمومي شبکه چې دافغانستان مرکزي غرونه ئې احاطه کړي دي او دپایتخت یعنې کابل سره په ختیځ او لویدیځ کښې دهرات دولایت سره په لویدیځ

کښې رابطه ټینګه وي او ددغه ارتباط په اساس مهم ښارونه او دزراعتي تولیداتو مهم مرکزونه چې په دغه مسیر کښې واقع نه وي یو دبله ددغو عمومي لارو څخه د کابل او شیرخان بندر ترمنځ قیرشوي عصري مواصلاتي لارده چې دهیواد پایتخت دشمالي مهمو صنعتي مرکزو سره نښلوي دغه مهمه لار په شیرخان بندر او دشوروي اتحاد په سرحدو کې ختمیږي ددغې لارې په اوږدو کښې مهم صنعتي ښارونه لکه: پلخمري، کندوز او بغلان چې ددغو ښارو څخه دهیواد مهم اقتصادي مواد لکه سمنټ، پنبه او بوره لاس ته راځي موقعیت لري.

دیوه بل سړک په اوږدو کښې چې دپلخمري څخه ترمزارشریف پورې اوږدوالي لري دافغانستان دډبرو دسکروډیرلوي د (دره صوف) کان چې تولیدات ئې په

زیاته اندازه استهلاکي مرکزو ته انتقالیږي شته

دمواصلاتو دانکشاف او لویو لارو په منځ ته راتلو کښې دافغانستان په شمال کښې تراوسه کوم اساسي سړک د بدخشان خواته نه دي جوړشوي په دې ځای کې باید زیاته کړو چې ددغې لارې جوړول د بدخشان دولایت دمالګې

دکان دانتقال لپاره دهیواد نورو برخو ته ډیر داهمیت وړدي.

دغه لویه او عمومي لار چې دکابل څخه شروع شوي او دهندوکش دسلسلې او دسالنګ دکوتل څخه تیریږي په (۱۹۵۸) کال کښې دشوروي اتحاد په مرسته شروع او په (۱۹۶۴) تکمیل شوه.

ددې لارې په جوړیدو کښې دهغه دټولو جنبو او دسالنګ دتونل سره دشوروي اتحاد دمرستو څخه استفاده شوي ده.

دسالنګ تونل چې (۳۳۶۰۰) متره لوړدي په (۱۹۶۳) کښې دهندوکش په غره کښې وکښل شو داتونل د ۲۶۷۰ مترو په اندازه دګادر څخه جوړشوي دي دسالنګ د نوي لارې په جوړیدو سره نسبت هغې پخوانۍ لارې یعنې شیبرته سړک (۲۳۰) کیلومتره لنډ شو چې په دې حساب دکابل څخه ترشیرخان بندر پورې عمومي واټن (۴۵۰) کیلومترو ته رسیږي. (نوربیا)

(د ۱۸ مخ پاته)

## عربي مثلث اتحاد

مجهزي شوي دي اسرائیل محاصره کړي.

دعربو داتحادیې جوړیده هغه ستر اقدام دي چې اسرائیلو پخوا هم له هغه نه خوف درلود.

دعربي نړۍ مطبوعاتو دمثلث اتحاد څخه چې

دعربو دنیول شویو ځایو دبیرته اخستلو دپاره دعربي هیوادونو دقواؤ دتمرکز په لیاره کې یو بل اقدام دي هر کلي کړي دي همدارنګه داردن صدراعظم دالمغرب پاچا- دالجزایر ددولت رئیس او د ملګرو ملتو دمؤسسې سرمنشي او تانت دعربي

فدراسیون پر جوړیدو باندې تبصرې کړي دي.

دعربي فدراسیون داعلامیدو وروسته د اسرائیلو کابینې غونډه وکړه او ددغه فدراسیون جوړیده دهغه هیواد دحکومت داندیښنې سبب شوي دي (پای)

د «ویران» ژباړه: زموږ د تاریخ له ګوښو څخه:

# د غزنوی محمود ترقو مانده لاندی چی افغانان

## دوهمه پلا پر هندو رغله

سلطان محمود غزنوی

دلته د غزنوی محمود د فتوحاتو یو اړخ بیانیږی هغه چی په ۳۹۱ هجری کال وهند ته دوهمه پلا ورننوؤت اولو یه فتح ئی په برخه سوه- د دې فتح د ګذارش یوه برخه د یوې قصی په توګه د روړاندی کیږی.

داسی یو کال ؤ چه د پنجاب لوی دښت خاص زینت او ښکلاء درلوده ځکه د طبیعت یا غوان په دی کال دا دښت په زرغونو وښو او وحشی رنګارنګ ګلانو خورا ښائسته کړی ؤ.

خو د دی پر ځای چی په دی روح بخښونکی دښت کی مینان د خپلو پریرویانو سره د رازونیاز وخت او میعاد وټاکی او لاس ترغاړه د ګلانو په منځ کی سره وهوسیږی یا مطربان د پسرلی د دی بی بهاسوغات او زړه خوشاله کونکی ګلانو او شنه چمن په زړه کی خوږی نغمی واوروی ، په یو برخه کی ئی تورې-سپینی او سری خیمی درول سوی وی قوې هیکله جنګیالی افغانان چی د جنګ په سامان او وسلو بار وه دلته میشت وه او د دوی حرکاتو ځکه په ښور راوستلی وه.

غزنوی سلطان محمود چی د شهرت آوازه ئی په جهان کی خپره شو یوه د دوهمی پلا د پاره ئی پر هندوستان هجوم راوړی او دا د ده شعار ؤ چی د (اسلام بیرغ باید د هند پر ښار و او بت خانو ورپیږی).

د سلطان محمود له اردوګاه څخه څلور فرسنګه لیری په زرو خیمی نوری ولاړی وی چی هغه د سیکانو، پنجابیانو او د هند د مختلفو جنګی خلکو وی د دی خیمو په منځ کی یوه مجلله او ګران بها خیمه هم ولاړه وه چی په (جیپال) (هندی مشر) ئی اړه درلوده د دی ځای په یوه پراخ ډګر کی د جیپال د خیمی مخ ته دری سوه تنه لښکری بیل بیل سرداران د یوی دائری په شکل راګرزیدلی وه او د ډګر په منځ کی یوه عجبه منظره لیدل کیده چی حتی له دی دری سوه تنو افسرانو څخه هم یولانه ؤ خبر چه دا به څه معـــاملـــه وی ؟

دلته یوه لویه د لرګو کوټه جوړه شوی وه او لرګی هم قیمتی لرګی وه لکه صندل-آبنوس-کاج او نور پردی لرګو سربیره یوه چوکی چی د سرو زرو وه او جواهرات پکښی کار شوی وه ایښوول شو یوی وه.

خلک پدی انتظار کی وه چی (جیپال) ډګر ته راسی او د امر موزه معما حل کړی. نا بیره (ډول او سرنا) وږغول شوه او د (جیپال) د خیمی زرین او ګران بها پلو پورته سو لوړ قامتی (جیپال) چی د رزم لباس ئی اغوستی ؤ راښکاره شو. د ده ترشاد ده ځوان زوی (انندپال) او یوه ښځه چی ښه قد ؤ قامت او مخ ؤ ټوله وجود ئی د وریښمو په تور لباس کی چی زرین ستوری پر کار سوی وه پټ ؤ کمیس یی هم د دغه ټوکر څخه جوړ سوی ؤ.

ګړی په ګړی د خلکو حیرت زیاتیدی هغه څه چی د حاضرینو د زیات تشویش موجب وو هغه دا د ګران بیه لرګو کوټه او د هغه پر سر چوکی وه ځکه ټوله په دی پوهیدله چی یو انسان باید په دغه لرګو کی وسو ځل سی خو دا نه وه ورته معلومه چی هغه به څوک وی ؟ دا مجلل تشریفات بیا د دی دلیل وه چی که نر وی که ښځه د یوه لوړ خاندان مربوط به وی

کله چی جیپال، انندپال او تور یو ښه ښځه له خیمی راووتل د ټولو

داگمان سو چی په اورکی به داښځه سو ځل کیږی خو داهرډول فکرونه او چرتونه ددوام په حال کی وه چی جیپال خپل زوی ته وویل: انند پاله ! داښځه تاته درسپارم او وصیت درته کوم چی هیڅ کله ئی مخ مه گوره زما وروسته ئی یو ې بتخانه ته و لیږه چی دخپلی خوښی او رضا سره سم هلته واوسی .

داچی ئی وویل دمخه تردی چی زوی یی یو ځه ووائی ښځه ئی ترلاس ونیول او په اوږدو گامو دلرگود کوټی خواته ولاړ ښځه ئی دیوه لگیدلی مشعل څنگ ته چی خوش بویه دودئی پورته کیدی پریښول پخپله په ډیره چابکی دلرگو سر ته وخوت او

پرهغه قیمتی چوکی ودریدی سره وځرخیدی او ټوله حاضرین ئی ترنظر تیر کړه .

دافسرانو او نورو حاضرو خلکو زړونه په دربی کښیوتل او ساه چانه کښل یو عجیب کیفیت جوړسو هرچا دا احساس کړه چی یوه مهیبه صحنه راتلونکی

ده ټوله سترگی غوږونه او فکرونه د (جیپال) خواته متوجه وه .

انند پال هم دپلار دتصمیم څخه ناخبره وده دښځی په باره کی دپلار دوصیت په شاؤ خوا کی چرت واهه او دی خبری چی پلار ورته و کړه ده ته بولو ی عذاب راووست دښځی باریك او لوړ اندام په حجاب کی هم څه

ښکاره کیدی او انند پال به مسلسل سترگی وراړ ولی او ددی سودائی خوراډیره سوه چی یو وارئی دښځی مخ لیدلی وای انند پال لا په دی چرتونو کی ډوب ؤ چی

پلار ئی به یوه متین او لوړ آواز په وینا پیل وکی ، خلك ټوله داسی خاموشه سوه چی که داوخت یو څوك

تازه دی ډگرته راداخل سوی وای نو تصور به ئی کړی وای چی داخلك نه دی مجسمی دی چی یو ماهر سړی جوړی کړی او دلته سره یو ځای سوی دی .

جیپال چی یو شجاعانه په عین حال کی جنون آمیزه تصمیم نیولی ؤ په دغه لوړ آواز ئی خلکو ته وویل: ای زړه ورو فداکارانو! چی ترسرؤ کور او آل ؤ اولاد تیر

سوی یاست دهندوستان له ډیرو لیرو برخو څه ددین، ملت او مملکت دساتنی دپاره دلته راغلی یاست و پوهیږی چی دخاوری او هیواد دساتنی د پاره دسر جارول دیو



باشرفه انسان لومړنی وظیفه ده نو پر موږ لازمه ده چی تر آخری ځاځکی وینی پوری ددی خاوری دفاع او ساتنه وکو .

نن زه یوه مشکله وظیفه لرم چی هغه دټولو دخوا ناچپه ده خوزه په خپله رضا او ډیر میل غواړم هغه تر سره کړم او دا به ستاسی دپاره سر مشق وگرزی .

جیپال څو دقیقی سکوت وکړ هغه سړه خوله چی پرمخ وتندی ئی راغلی وه پاکه ئی کړه او دائی پسی زیاته کړه چی نن تاسی په ډیر حیرت او اضطراب منتظر یاست او نه پوهیږی چی دلته اوس څوك سو ځل کیږی هغه څوك چی دلته سو ځل کیږی یو گناهکار شخص دی چی دده دگناهو په علت اولس او مملکت ترغضب

لاندی راغلی دی نو دا شخص باید دخپلو گناهو جبیره دمقدس اور په سو ځلو وکی دعسکری سردارانو او مشرانو معما نوره هم پسی مشکله سوه تشویش او خواشینی ئی لاډیره سوه ځکه چی جیپال دگناه او گناهکار دالفاظو په یادولو سره دحاضرینو په زړو او افکارو کی داخبره پیدا کړه چی یو گناهکار سته او خپل ملك ؤ ملت ته ئی

خیانت کړی دی .

خو دا مشکله خبره وحلید وته نو کی نژدی سوه او جیپال وویل آیا ستاسی په یاد دی او ملتفت واست چی زموږ لښکریان دسلطان محمود ترلښکریانو څو گرایه بالا او مجهز وه لیکن موږ مات ، ومغلوب سولو .

آیا په دی کی موفکر کړیدی چی زموږ ځوانان دسلطان محمود ترځوانانو پاته نه وه په تجهیزاتو او تعداد کی ترهغو ډیر بالاوه آیا څنگه موږ مغلوب سولو؟

جیپال بیا پټه خوله سو چی دده په وینا کی خلك ښه فکر وکی له هغه وروسته ئی وویل: دبده مرغه زه پوهیږم چی ددښمن دغلبی اصلی علت هغه گناهونه دی چی زه ئی مرتکب سوی یم .

اوس چی بیا سلطان محمود دخپلو سر بازانو سره راغلی او پر پنجاب دیرغل خیال لری لازمه ده چی زه خپل ځان داور په سو ځلو پاك کړم څو تاسی وکو لای سوای چی پرده غالب شی .

لښکری سردارانو او مشرانو به دا فکر هم کاوه چی (جیپال) دمحمود رهغو ماتو څخه چی ده ته ئی ورکړیدی

مغموم دی او دا چی بیا هم د سلطان محمود سره د جنګ په محاذ کی مخامخ کیږی نو دې خبری دده حواس ورخراب کړی دی .

یا دا چی یوه مرموزه نخشه ئی طرح کړیده او هغه نن عملی کیږی . نو د حاضرینو چپتیاؤ حیرت نور هم پسی ډېرې دی .

جیپال بیا په خبرو پیل و کی چی اې زړه ورو او غښتلو !

ما دا ډېر وخت فکر کاوه چی زه د ګناهونو مرتکب سوی یم او ممکن چی موږ ؤ تاسی په یوه سخت مصیبت مبتلا سو ځکه چی دا ګناه شخصاً په ما اړه لری که زما وجود نه وی نو دا ګناه هم راسره نابوده کیږی زه په دې خبره کی ورک وم چی د دې ګناهو جبیره به څنګه وکولای سم چی تاسی هم د هغه له شره څخه نجات پیدا کړی - که زه د خپلو ګناهو جبیره ونه کړم نو که د سلطان محمود د لښکرو سره په جګړه کښیو زو بیا به هم د ماتی یو بل پیغور راته پاته وی دا فکر زه ډېر مشغول کړی وم هغه ؤ چی وړمه شپه په خوب کی راته وویل سوه چی ته ځان په مقدس اور کی تطهیر کړه په دې توګه به هغه ناز له سوې بلا زموږ له هیواد څخه وګرزی .

نو دا دی چی نن زه دا سخته وظیفه بشپړه کوم تاسی به پسله ما په یوه کامل یقین پر دښمن ورسی او فتح به مو هم په نصیب شی حتی د همیشه د پاره به ئی مغلوب کړی . ده چی دا خبری پای ته ورسولی د لښکری سردارانو له جملی څخه یوه چی همیشه به د جیپال سره په جنګ کښی ځنګ پر ځنګ ولاړ و و دا سی یو جرئت ئی وکی او په لوړ آواز ئی وویل چی زموږ ښاغلی مشره ! دا فکر چی تا کړی دی بیله دې چی غم او اضطراب به په خلکو کی بالا کی بله نتیجه نه لری دا پلا زموږ دری ملیونه جنګی ځوانان تر بیرغانو لاندی لرو په دا سی حال کښی چی سلطان محمود تر څلویښت زره سپاهیانو زیات نه لری زه شخصاً د جګړې مسؤلیت پر خپله غاړه اخلم او وعده کوم چی په لومړی یرغل به محمود ته ماتی ورکو که ته خپل ځان زموږ د ماتی موجب بولی نو د دې خبری چاره خو آسانه ده ولاړ سه بتخانی ته په عبادت ځان مشغول که موږ او سلطان محمود سره پریږده .

جیپال په یوه قهر جنه لهجه وویل چی ما ته الهام سوی دی هغه څه چی می زړه غواړی نن زه هغسی کوم . د دې هیواد د نجات او زما د ګناهونو د جبیرې د پاره همدا یوازنی چاره ده .

په دی کار کی می مداخله مه کوی او خواهم مه بدوی .

دا وخت جیپال پر چوکی کښینوست او هغه صحنه چی د حاضرینو زړونه او بدنونه ئی په لرزه راوستل شروع شوه هغه په تور لباس کی پټی ښځی چنګ را واخیست او دا سی آهنګ ئی شروع کی چی خلک ئی مجذوب کړه نو موړی ښځی د مرګ سرود وایه . (نور بیا)

له هری خوا : د غورک وال ژباړه :

# غوره کلمی

ډیره سپیڅلی کلمه : د خدای نوم دی .
ډیره پاکه کلمه : وجدان .
ډیره سخته کلمه : جګړه .
ډیره عالی کلمه : خپلواکی .
ډیره ښکلی کلمه : مینه .
ډیره جذابه کلمه : وفا .
ډیره وحشی کلمه : د بی ګناه وژل .
ډیره با ارزښته کلمه : مور .
ډیره با معنی کلمه : پلار .

## د نړۍ لوړ ځایونه :

د مځکی ډیره لوړه څوکه د ایوریسټ څوکه ده چه (۸۸۸٤) متره لوړوالی لری .

د نړۍ ډیر لوړ او غورځونکی غر «پوپو کاتیپ» په امریکا کښی دی .

د نړۍ ډیره جګه ودانی د «امپایر ایسټ» ودانی ده چه په ۱۰۲ پوړیز ډول جوړه شوی او ۱۲۵۰ متره لوړوالی لری .

د نړۍ ډیره هسکه څوکه د اروپا د منتبلان څوکه ده چه ٤۸۰۷ متره لوړوالی لری او په امریکا کی ډیره جګه څوکه د «اکانکاګوا» ده چه ٦۹۵۳ متره هسکوالی لری د نړۍ ډیر هسک پایتخت د تبت د «لهاسا» په نامه یا دیږی چه د نړۍ د بام په نامه شهرت لری .

سپورټ او هنر :

د علي احمد مفکر په قلم :

# د کندهار یو ښوونکی

## سږ کال د سطرنج د لیګ په سیستم کښې د قهرمان لقب یو وړ په کندهار کښې د سطرنج د لوبغاړو ترمنځ د دیارلسو کالو راهیسې دوستانه لوبې کیږي

سطرنج یو دماغي سپورټ او داسې په زړه پورې لوبه ده چه په ټول افغانستان په تیره بیا په کندهار کښې ځوانان او سپین ږیري د رخصتۍ او ساتیري په وخت کښې خپل ترمنځ دغه لوبه کوي او څو تنه نور کسان د بالا بین او لیدونکو په حیث ورته تاست وي او کله کله یوې او بلې خوا ته چالونه هم ښیي .

زموږ په محیط کښې د سطرنج لوبغاړي کله کله دومره سرګرمه وي چه حتی یو نیم شوا روز دغې لوبې ته دوام ورکوي او شوقي لوبغاړي وائي چه د دغې لوبې په وخت کښې د دوی دماغ دومره مصروف وي چه د ساز او آواز او د ساتیري د بل شي څخه هغومره خوند نه شي اخیستلای لکه د سطرنج د لوبې څخه چې ئې اخلي .

د سطرنج یوه لوبغاړي وویل چه د دغې لوبې یوه اجتماعي ښیګڼه داده چې څوک په لوبه لګیاوي هغه دي ته وخت نه لري چې د چا غیبت وکړي او یا پر بل باندې بهتان ووائي .

سږ کال هم په کندهار کښې د تیر و کلونو په شان د پښتونستان په رستوران کښې د دې ځای د سطرنج د ۳۱ تنو ځوانو لوبغاړو ترمنځ د لیګ په سیستم دوستانه لوبې وشوې .

په کندهار کې د سطرنج د لوبو د شاملو کسانو یوه ډله پدغه عکس کښې د سږ کال د سطرنج د لوبو د قهرمان سره چې کپ ئې په لاس کې دی لیدل کیږي

د دغو لوبو تنظیمونکي او د صدیقي د رملتون څښتن ښاغلي محمد صدیق زموږ د یوې پوښتنې په ځواب کښې وویل چې په کندهار کښې د دیارلسو کالو راهیسې د ځوانانو ترمنځ دغه لوبې کیږي او د یارلس کاله پخوا لومړي ځل دغه لوبې د عزت په رستوران کښې وشوې او په هغه کال ښاغلي محمد اکبر صدیق د سطرنج قهرمان وپیژندل شو ښاغلي محمد صدیق د سږ کال په لوبو کښې حاجي محمد علي

(۳۹ مخ)

د کندهار د سطرنج نامتو او تکړه لوبغاړي د لوبې د حکم په حیث معرفي کړ او وئي ویل چې ښاغلي محمد علي زموږ د سطرنج یو پخواني لوبغاړي دي .

حاجي محمد علي وویل چې دي د څلیر و پښتو کلونو راهیسې سطرنج کوي او د هیواد د خپلواکۍ په اوولسم او اتلسم تلین کښې ئې په کابل کښې د سطرنج په لوبو کښې برخه اخستې او په دغو دواړو کلونو کښې ئې په کابل کې د قهرمانۍ کپونه اخستې دي ، دغه لوبې د المپیک د ریاست په مرسته وشوې .

د سطرنج د لوبو حکم د یوې پوښتنې په جواب کښې وویل چې سږ کال د احمد شاه بابا د لیسې د فزیک ښوونکي ښاغلي محمد عیسی د سطرنج د لوبو د ۳۱ تنو ګډون کوونکو له ټل څخه د ۶۲ نمرو په ګټلو سره لومړي درجه او د سږ کال د قهرمان په حیث وپیژندل شو .

ښاغلي محمد علي دا هم وویل چې سږ کال د سطرنج لوبې د لیګ په سیستم وشوې حال دا چې تیر کال دغه لوبې د ناک اوټ په سیستم وې یعنې سږ کال د لوبې شاملو کسانو د ټولو هغو لوبغاړو سره د سطرنج جلا جلا لوبې وکړي چې په دغه لوبو کښې ئې برخه اخستې وه .

(پاته په ۳۰ مخ کې)

دخارجي منابعو څخه:

# اختراعات او نوی شیان

## نوی او بتل



دغه نوی او بتل چی دوه تنه پکښی سپریږی د بیلو بیلو مقصدونو دپاره جوړ شوی دی، لکه بیړۍ داو بو پر مخ او لاندی تر او بو حرکت کولای شی.

هغه په سیندونو کښی دڅیړنی، د کښتیو د نجات، لاندی تر او بو دڅارنی دچارو، د کښتیو د تأسیساتو، لنګر ځایونو او داسی نورو بحری مقصدونو دپاره په کاریږی.

که دهایدرولیك په یوه جنګك مجهز شی دسیندونو د تل څخه ملغلری ایستلای شی.

ددغه المانی او بتل او بږدوالی چی دسولی دچارو دپاره جوړ شوی دی ۶،۹۳ متره او وزن ئی ۱۴ ټنه دی.

(د ۲۹ مخ پاته)

## دکندهار یو ښوونکی سږکال...

دکندهار دسطرنج نامتو لوبغاړی دیوی بلی پوښتنی په جواب کښی وویل چی زموږ په اوسنیو لوبو کښی دارو پائی لوبی ځینی چالونه هم شامل شوی دی او هغه دا چی دسطرنج دپیاده دانه لومړی ځل دمبارزی په میدان کښی دوی خانی پر مختګ کولای شی، او هم دهری خانی څخه دپیاده چی مثلا فیل، رخ، وزیر یا آس وغواړو په دغه ځلورو کښی یو هر شی ځنی جوړیدای شی.

دسږکال دسطرنج دلوبو په پای کښی چی دحمل په ۲۸ نیټه پای ته ورسیدی دکندهار د اطلاعاتو او کلتور دلوی مدیر ښاغلی غلام محی الدین ایوبی په واسطه دقهرمانی کپ ښاغلی محمد عیسی ښوونکی ته دده دغه بریالیتوب ته دمبارکی ویلو په ترڅ کی ورکړه شو

دانډیوال ژباړه:

## نوی میکروسکوپ

په دې وختونو کښی په لندن کښی یو نوی میکروسکوپ جوړ شوی دی چی کولای شی شیان نیم ملیون واره لوی وښئی، هغه (ام، آر) نومیږی او دپولاران دشیانو جوړولو شرکت هغه طرح او منځ ته راایستلی دی.

دغه میکروسکوپ دطب او روغتیا دچارو دپاره ډیر مناسب دی او همدا اوس دلندن دروغتیا پوهنځی له هغه څخه استفاده کوی.

دپوهانو په عقیده دغه میکروسکوپ د صنعت په بیلو بیلو ډولونو په تیره بیا په دواؤ خوراکی شیانو، فلاحت او فولاد جوړولو په چارو کښی په کاریږی.

داډول جوړ شوی دی چی په آسانی سره ئی پرزی خلاصیدای شی او الکترونیکی میکروسکوپی اصول او دهغه دکار څخه خبرتیا حاصلیږی.

## دزنګ پر ضد رنګ

دالمان کیمیا پوهانو په دی وختونو کښی یو داسی رنګ جوړ کړی دی چی د هغه له کبله کوم فلز او یا بل شی چی دغه رنګ پر موښلی وی زنګ نه کوی.

ددغه رنګ خاصیت دادی چی لنده بل تروی او به، دهواخرابوالی، غوړی، نفت اسید او دهیوا ډیره سخته تود وخه پر هغه باندی اغیزه نه کوی.

ددغه نوی رنګ څخه کښتی وانان ښه استفاده کولای شی او درنګولو په وخت کښی دپستو برسونو او وړو جاروګانو څخه کار اخستل کیږی او په دغه رنګ دوه واره یو شی رنګیږی.

(۳۰ مخ)